Pashto | پښتو

# د ماشوم د خونديتوب معيارونو لپاره لنډ لارښود

نسخه 10.1 • اپریل 2023

COMMISSION FOR CHILDREN
AND YOUNG PEOPLE

د ماشومانو او ځوانانو لپاره کمیسیون

## منځپانګې

شالید (پس منظر) ........ 3
دا لارښود څرنګه کارول کیږي؟ ........ 4
۱ معیار: سازمانونه د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کوي چیرې چې د اب اوریجنل ماشومانو او ځوانانو متنوع او ځانګړي پیژندنې او تجربې ته درناوی او ارزښت ولري. ........ 5
۲ معیار: د ماشوم خوندیتوب او هوساینه د سازماني مشرتابه، مدیریت او کلتور سره تړلې ده ........ 11
۳ معیار: ماشومان او ځوانان د خپلو حقونو په اړه ځواکمن شوي، په هغو پریکړو کې برخه اخلي چې په دوی اغیزه کوي او په جدي توګه په پام کې نیول کیږي. ........ 14
۴ معیار: کورنۍ او ټولنې د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې په وده کې خبرتیا او دخیل دي ........ 17
۵ معیار: مساوات ساتل کیږي او په پالیسۍ او عمل کې مختلفو اړتیاوو ته درناوی کیږي ........ 20
۶ معیار: هغه خلک چې د ماشومانو او ځوانانو سره کار کوي مناسب دي او حمایت یې کیږی ترڅو په عمل کې د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې ارزښتونه منعکس کړي ........ 24
۷ معیار: د شکایتونو او اندیښنو پروسې باید په ماشومانو متمرکزې وي ........ 27
۸ معیار: کارمندان او رضاکاران په پوهه، مهارتونو او پوهاوي سمبال دي ترڅو ماشومان او ځوانان د رواني زده کړې او روزنې له لارې خوندي وساتي. ........ 31
۹ معیار: فزیکي او آنلاین چاپیریال خوندیتوب او هوساینې ته وده ورکوي پداسې حال کې چې د ماشومانو او ځوانانو لپاره د زیان رسولو فرصت کموي ........ 34
۱۰ معیار: د ماشومانو د خوندیتوب د معیارونو پلي کول او په منظمه توګه بیاکتنه او لا غوره کول ........ 37
۱۱ معیار: پالیسي او طرزالعملونه مستند کوي چې څنګه اداره د ماشومانو او ځوانانو لپاره خوندي ده. ........ 39

## شالید (پس منظر)

ټول ماشومان حق لري چې د خوندیتوب احساس وکړي او خوندي وي، مګر خوندیتوب په خپل سر نه پیښیږي.

په وروستیو کلونو کې موږ د ډیرى هغو ماشومانو په هکله د پوهیدو او ډیرى تحقیقاتو څخه د زده کړې فرصت درلود چې له جنسي تیري څخه تیر شوي دي، د ویکتوریا د پارلمان *د باور خیانت* تحقیقات[1] او د ماشومانو د جنسي تیري په اړه د دولت د غبرګونونو شاهي کمیسیون[2] (شاهي کمیسیون) په ګډون. دې ښودلې ده چې پر ماشومانو یې تر ویجاړونکي حده پورې اغیزه درلودلې ده کله چې سازمانونه د ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي لپاره سم کلتور، سیستمونه، پروسې او پوهه ونلري.

د ماشومانو د خوندي ساتنې سازمان د ماشومانو د فزیکي، جنسي، احساساتي او رواني ناوړه ګټه اخیستنې او غفلت څخه د ساتنې لپاره جدي ګامونه پورته کوي. دا د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې ته لومړیتوب ورکوي او د سازمان په هر اړخ کې د ماشومانو خوندیتوب ته ژمنتیا ښیی.

د ویکټوریا د ماشوم د خوندیتو لازمي معیارونه (معیارونه) له 2016 راهیسې پلي شوي.

د شاهي کمیسیون په تعقیب، د ویکټوریا حکومت ددې معیارونو بیاکتنه کړې ده.[3] بیاکتنې د معیارونو لپاره قوي ملاتړ موندلی او د یو شمیر بدلونونو وړاندیز یې کړی ترڅو معیارونه د ماشومانو د خوندیتوب د سازمانونو د ملي اصولو سره ښه تنظیم کړي او د معیارونو اداره پیاوړې کړي.

د دې سپارښتنو سره سم، تازه معیارونه په 2021 کې د ویکټوریا د حکومت لخوا خپاره شوي. دا 11 تازه(نوی) شوي معیارونه لري چې د 2022 کال د جولای د 1 څخه پلي کیږي.

د معیارونو په پلي کولو کې، سازمانونه فرصت لري چې تر اوسه پورې خپلو هڅو ته انعکاس ورکړي او خپل ظرفیت لوړولو ته دوام ورکړي ترڅو ماشومان له زیان او ناوړه ګټه اخیستنې څخه وساتي.

---

[1] د کورنۍ او ټولنې د پراختیا کمیټه، د ویکټوریا پارلمان، [د باور خیانت: د مذهبي او نورو غیر دولتي سازمانونو لخوا د ماشومانو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې په اړه تحقیقات]()، ویکتوریا 2013، 2: 262 مخ.

[2] د آسټرالیا مشترک المنافع دولت، [د ماشومانو جنسي تیري ته د دولت لخوا غبرګونونو لپاره شاهي کمیسیون]()، 2017.

[3] د روغتیا او بشري خدماتو څانګه، [د ویکټوریا د ماشوم د خوندیتوب د معیارونو بیاکتنه]()، 2019.

## دا لارښود څرنګه کارول کيږي؟

دا لارښود په لنډه توګه هر معيار په ګوته کوي، متوقعه پايلې، لړترلړه اړتياوې او د مطابقت شاخصونه په ګوته کوي چې سازمانونو سره به د هر معيار په مطابقت کې مرسته وکړي. د دې په اړه نور مفصل لارښود چې څرنګه سازمانونه د معيارونو سره مطابقت کولی شي د ماشومانو او ځوانانو لپاره د ماشومانو د خونديتوب سازمان رامينځته کولو لارښود کې شامل دي.

د معيارونو څخه هر يو يې د **متوقع پايلې** د بيان په توګه څرګند شوي چې سازمانونه يې بايد ترلاسه کړي. د مثال په توګه، 3 (دريم) معيار د اړينه کوي چې 'ماشومان او ځوانان د خپلو حقونو په اړه ځواکمن وي، په هغو پريکړو کې برخه واخلي چې دوی اغيزمن کوي او دوی جدي وګڼل شي'.

په هر معيار کې **لړترلړه اړتياوې** شاملې دي چې سازمانونه يې بايد پوره کړي. نوي معيارونه د سازمانونو سره د مطلوبو پايلو په پوره کولو کې د مرستې لپاره ستر لارښود چمتو کوي، پداسې حال کې چې لاهم انعطاف ته اجازه ورکوي.

د هر معيار لپاره، د ماشومانو او ځوانانو کميسيون (کميسيون) د اسنادو او کړنو ليست چمتو کړی چې دا ښيي چې آيا ستاسو سازمان دا لړترلړه اړتياوې پوره کوي. موږ دا **د مطابقت شاخص بولو**. د مطابقت شاخصونه د نظرياتو په ځواب کې رامينځته شوي چې سازمانونه د دې په اړه نورې مشورې غواړي چې تنظيم کونکي د مطابقت د ارزولو پرمهال کوم موارد ګوري. د مطابقت شاخصونه عموماً د لړترلړه اړتياو څخه يو يا ډيرو سره مطابقت لري، کوم چې د شاخص څخه وروسته په قوسونو کې ښودل شوي.

سازمانونه به عموماً د معيارونو سره مطابقت ولري که چيرې دوی ليست شوي اسناد چمتو کړي او په هر فصل کې د **مطابقت په شاخصونو** کې ټاکل شوي عملونه بشپړ کړي. په هرصورت ، ستاسو سازمان بايد ډاډ ترلاسه کړي چې منل شوې تګلاره **پايله** او **لړترلړه اړتياوې ترلاسه کوي** لکه څنګه چې په هر معيار کې ټاکل شوي.

دا لارښود په اصل کې عمومي دی ځکه چې معيارونه د داسې پراخه او متنوع سازمانونو لپاره پلي کيږي. ستاسو د سازمان ماهيت يا ځانګړتياوې کيدای شي پدې معنی وي چې تاسو بايد ځينې کارونه په يو څه توپير ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړانديز شوي. که داسې وي، تاسو بايد تشريح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د **پايلو** او د معيارونو **لړترلړه اړتياو** سره مطابقت لري.

د کميسيون په شمول په ويکټوريا کې د معيارونو لپاره شپږ شريک تنظيمونکي شتون لري، او تاسو کولی شئ خپل تنظيمونکي د کميسيون په ويب پاڼه کې وموميئ. ځينې سازمانونه چې د ماشومانو لپاره ډيری ډول خدمتونه وړاندې کوي ممکن له يو څخه ډير تنظيمونکي ولري. ځينې تنظيمونکی د سکتورونو او سازمانونو لپاره ځانګړي لارښوونې صادرې کړي چې دوی يې تنظيموي. چيرې چې د شريک تنظيمونکي لارښود ستاسو په سکټور کې پلي کيږي، او د دې لارښود سره توپير لري، ستاسو سازمان بايد په دې سکټور کې ستاسو د عملياتو لپاره ستاسو د شريک تنظيمونکي لارښوونې تعقيب کړي.

د معيارونو پلي کولو او د ماشومانو خونديتوب ته لومړيتوب ورکولو څرنګوالي په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د ماشومانو د خونديتوب سازمان رامينځته کولو لارښود ولولئ.

**اصطلاحات:** په دې لارښود کې د اب اوريجينل اصطلاح د استراليا د اصلی خلکو او د ټوريس سټريټ ټاپو د خلکو په شمول ده. مونږ د ماشوم يا ماشومانو اصطلاح کاروو چې دواړه ماشومان او ځوانان د ۱۸ کلونو څخه کم عمر ولري. په دې لارښود کې، يو سازمان هر هغه کاروبار يا ډله ده چې د ماشومانو سره کار کوي يا رضاکارانه کار کوي.

## ۱ معیار: سازمانونه د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کوي چیرې چې د اب اوریجنل ماشومانو او ځوانانو متنوع او ځانګړي پیژندنې او تجربې ته درناوی او ارزښت ولري.

**د ماشوم د خوندیتوب معیار 1 سره په مطابقت کې یو سازمان باید لږترلږه، ډاډ ترلاسه کړي چې:**

۱٫۱ د ماشوم وړتیا چې خپل کلتور څرګند کړي او له کلتوري حقونو څخه خوند واخلي هڅول کیږي او په فعاله توګه ملاتړ کیږي.

۱٫۲ داسې ستراتیژیانې په سازمان کې پلې شوې وي چې ټول غړي یې د اب وریجنل کلتور پیاوړتیا او ستاینې کولو لپاره سمبال وي او د ابوریجنل ماشومانو او ځوانانو د هوساینې او خوندیتوب لپاره د هغې په اهمیت پوهیږي.

۱٫۳ د سازمان لخوا داسې اقدامات ترسره شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې په سازمان کې نژاد پرستۍ پیژندل کیږي، ورسره مقابله کیږي او نه زغمل کیږي. د نژاد پرستۍ هر ډول نمونې د مناسبو پایلو سره په نښه کیږي.

۱٫۴ دا سازمان په فعاله توګه د اب اوریجنل ماشومانو، ځوانانو او د هغوی د کورنیو لخوا په دې کې د ګډون او شاملولو ملاتړ او آسانتیا برابروي.

۱٫۵ د سازمان ټولې پالیسۍ، طرزالعملونه، سیستمونه او پروسې په ګډه کلتوري خوندي او ټول شموله چاپیریال رامینځته کوي او د اب اوریجنل ماشومانو، ځوانانو او د هغوی د کورنیو اړتیاوې پوره کوي.

### مهم ټکي

- کله چې تاسو په سازمان کې برخه اخلي، تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول ماشومان د خوندیتوب احساس کوي، او خوندي دي. په دې کې اب اوریجنل ماشومان[4] هم شامل دي.
- د اب اوریجنل ماشومانو لپاره کلتوري خوندیتوب داسې تعریف شوی چې "ماشوم ته یو خوندي، پالنه او مثبت چاپیریال چمتو کیږي چیرې چې دوی د خپل ځان سره راحت وي، خپل کلتور څرګند کړي ... د دوی مذهبي او باوري سیسټمونه، او دوی د پالونکي لخوا مرسته ورسره کیږي ... د دوی اب اوریجنلی (اصلیت) ته درناوی کوي او له همدې امله دوی د خپل هویت او ځان احساس هڅوي.[5]
- د کلتوري خوندیتوب ترلاسه کولو کط پدې پوهیدل شامل دي چې څنګه یو سازمان د اب اوریجنل خلکو لخوا لیدل کیږي او تجربه کیږي او په ځانګړي توګه د اب اوریجنل ماشومانو لخوا.
- اب اوریجنل خلک هر یو ځانګړی تاریخ او تجربې لري، او دا مهمه ده چې د هیواد د لومړنیو خلکو په توګه د اب اوریجنل خلکو ځانګړی ځای وپیژندل شي.

[4] په دې لارښود کې د 'اب اوریجنل' اصطلاح د اب وریجینل او ټوریس سټریټ ټاپو د خلکو په شمول ده.

[5] SNAICC، کلتوري خوندیتوب، ۲۰۲۱.

- د اب اوریجنل په توګه پېژندل د ماشوم د هویت یوه برخه ده. د هر چا په څیر، اب اوریجنل خلک د ژوند مختلفې تجربې او ځانګړتیاوې لري. سازمانونه باید د اب اوریجنل ماشومانو لپاره د ملاتړ چاپېریال چمتو کړي چې هر یو یې د خپلو ځانګړتیاو، څواک او ننګونو سره ځانګړی وي.
- کلتور او هویت سره تړلي دي، او د اب اوریجنل ماشومانو ملاتړ کولو سره چې د دوی په هویت کې پیاوړي احساس وکړي، تاسو هم د دوی د کلتوري حقونو څخه خوند اخیستلو کې مرسته کوئ.
- د خپل کلتوري هویت څرګندولو وړتیا د اب اوریجنل ماشومان قوي او خوندي ساتي.[6] دا د ډېرو دلیلونو لپاره مهم دی. د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي په برخه کې، دا مهمه ده څکه چې کله چې اب اوریجنل ماشومان د خپل ځان په توګه او د خپل کلتور څرګندونه کې د خوندیتوب احساس ونکړي، د نورو لخوا د ناوړه ګټه اخیستنې خطر ډېریږي او ممکن دوی د ناوړه ګټه اخیستنې راپور ورکولو ته لږ لیواله وي.[7]
- کلتوري حقونه د هر ماشوم حقونه دي، یا په انفرادي توګه یا د خلکو د یوې برخې په توګه، د دوی تاریخي شالید، دود، ټولنیز چلند، ژبه، مذهب یا روحانیت، عقیدې او د ژوند طریقه وده او بیان کړي.
- اب اوریجنل خلک د خپل هویت او کلتور څخه د خوند اخیستلو ځانګړي کلتوري حقونه لري؛ د خپلې ژبې کارول ساتل؛ د خپلو خپلوانو اړیکې ساتل؛ او د ځمکې، اوبو او نورو منابعو سره چې دوی د دودیزو قوانینو او دودونو له مخې اړیکې لري خپلې اړیکې وساتي.[8]
- دا ستاسو مسؤلیت دی چې خپل سازمان ټول شموله کړئ، او دا زده کړې، انعکاس او مثبت عمل ته اړتیا لري.
- د اب اوریجنل کلتورونو په اړه زده کړه باید د دوامداره سفر برخه وي. دا به مهمه وي چې د مشرانو، کارکوونکو او رضاکارانو، ماشومانو او د سازمان د ټولنې د نورو غړو ترمنځ د درک او پوهاوی رامنځته کړل شي. د بل ډول مرستې په اړه فکر وکړئ چې دوی ممکن په سازمان کې د دوی د رول او مسؤلیتونو پورې اړه ولري.
- د ماشوم کورنۍ ته د ښه راغلاست احساس کول او په یوه سازمان کې شاملول د دوی په خوندیتوب کې مرسته کوي.[9] کورنۍ د اب اوریجنل کلتور، روحانیت او هویت بنسټ دی. کورنۍ اکثرا د نورو کلتورونو په پرتله په اب اوریجنل کلتورونو کې په پراخه کچه تعریف شوې.[10]
- توکمپالنه د ماشومانو لپاره زیانمنه ده او د دوی هوساینه او خوندیتوب اغیزمن کوي. دا کیدای شي د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې بنه وي. که ماشومان او د هغوی کورنۍ ستاسو د سازمان سره د اړیکو په وخت کې توکم پالنه تجربه کړي، دوی ممکن د نورو اندیښنو یا

---

[6] د ویکټوریا ایالت، د کورنیو، عادلانه او کور جوړونې ریاست،Wungurilwil Gapgapduir Aboriginal Children and Families Agreement، مخ ۳۵، ۲۰۱۸.

[7] P Anderson et al., *اب اوریجنل او د تورېس سټرېټ د ټاپو اوسېدونکی ماشومان او په اداری ترتیباتو کې د ماشومانو جنسي ناوړه ګټه اخیستنه*، Report for the Royal Commission into Institutional Responses to Child Sexual Abuse، [pdf ۱MB]، ۲۰۱۷، pp ۳۰-۳۳.

[8] Charter of Human Rights and Responsibilities Act 2006 (Vic تطبیق شوی.

[9] د ویکټوریا ایالت، د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، ب Balit Murrup: Aboriginal social emotional wellbeing framework 2027–2017، ۲۰۱۷.

[10] SNAICC، د کورنۍ سره اړیکه.

شکایتونو د راپورته کولو لپاره ډاډمن نه وي. د توکم پالنې په اړه شکایتونه په جدي توګه اخیستل او په بشپړ ډول یې ځواب ویل دا په ګوته کوي چې ستاسو په سازمان کې به توکمپالنه ونه زغمل شي.

- د اب اوریجنل کلتور په اړه پراخ بیانونه او پیژندل یې مهم دي، مګر یوازې دا به د ماشومانو لپاره خوندیتوب رامینځته نکړي. د کلتوري خوندیتوب رامینځته کولو لپاره ستاسو د سازمان چلند باید په ټول سازمان کې پلی او ځای پر ځای شي. دا پدې مانا ده چې د سازمان ټولې پالیسۍ، طرزالعملونه، سیسټمونه او پروسې د اب اوریجنل ماشومانو او د هغوی د کورنیو د اړتیاوو په پام کې ونیسي او پوره کړي.

## د مطابقت شاخصونه

**کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟**

دا معیار په سازمانونو باندې نوي مکلفیتونه پلي کوي ترڅو د اب اوریجنل ماشومانو لپاره کلتوري خوندیتوب تضمین کړي.

د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کول وخت، سر ښیندنې او معنی لرونکي ښکیلتیا ته اړتیا لري. سازمانونه باید اوږدمهاله ژمنې وکړي او هر کال معنی لرونکي اقدامات ترسره کړي ترڅو د ۱ معیار سره مطابقت ته وده ورکړي.

کمیسیون پوهیږي چې سازمانونه به د دې نوي معیار سره مطابقت ترلاسه کولو په مختلف مرحلو کې وي. **بنسټیز ګامونه** د هغو سازمانونو سره د مرستې لپاره چمتو شوي چې تر اوسه یې د اب اوریجنل ماشومانو لپاره د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال په رامینځته کولو لپاره د پام وړ هڅې ندي کړي. دا **بنسټیز ګامونه** د سازمانونو سره مرسته کوي هغه امور وپیژني چې دوی باید د معیار سره مطابقت او د عمل پلان رامینځته کولو لپاره ترسره کړي.

که ستاسو سازمان احساس کوي چې دمخه یې د اب اوریجنل ماشومانو لپاره د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کولو کې ښه پرمختګ کړی دی، نو **په بنسټیزو ګامونو** باندې تمرکز ممکن اړین نه وي. **نور ګامونه** چمتو شوي ترڅو ستاسو سازمان وکولی شي د کلتوري پلوه خوندي سازمان کیدو په لور سفر ته دوام ورکولو لپاره دمخه ترسره شوي کار ته وده ورکړي.

کمیسیون به لومړی **د بنسټیزو ګامونو**سره موافقت وګوري. **د بنسټیزو ګامونه** د پالیسیو، طرزالعملونو او عامه ژمنو لپاره اړین بدلونونه په ګوته کوي، مګر دا باید تاسې درک کړئ چې په سازمانونو کې بدلون وخت نیسي. د عمل پلان باید د معیار سره د بشپړ مطابقت ته د رسیدو لپاره د سازمان لاره په ګوته کړي. **نور ګامونه** د سازمانونو سره مرسته کوي چې پوه شي چې د دې معیار سره بشپړ مطابقت به څرنګه ښکاري.[11]

[11] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړاندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لږترلږه اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکټور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

## بنسټیز ګامونه

### اسناد

- د اب اوریجنل ماشومانو کلتوري خوندیتوب ته عامه ژمنتیا شتون لري او د عامه لاسرسي لپاره نندارې ته وړاندې ده. (۱٫۱، ۱٫۴، ۱٫۵ او ۵٫۴ ته لینکونه)
- د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې په اړه پالیسی او طرزالعملونه، په شمول د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې پالیسی، د سازمان ژمنتیا تشریح کوي چې د اب اوریجنل ماشومانو ته درناوی او ارزښت لري. پدې کې لاندې موارد شامل دي:
  - کارمندان او رضاکاران باید ماشومان وهڅوي او ملاتړ یې وکړي ترڅو خپل کلتور څرګند کړي او له کلتوري حقونو څخه خوند واخلي
  - کارمندان او رضاکاران باید په فعاله توګه د اب اوریجنل ماشومانو او د هغوی د کورنیو لخوا په سازمان کې د ګډون او شمولیت ملاتړ او آسانتیا برابره کړي
  - نژاد پرستی به په سازمان کې ونه زغمل شي او سازمان به څرنګه ځواب ووایي، د احتمالي پایلو په شمول
  - د سازمان مشرتابه مسؤلیت لري چې د هر هغه چا سره مرسته وکړي چې د سازمان سره شکیل دي [12] ترڅو د اب اوریجنل کلتور پیاوړتیا ومني او ستاینه یې وکړي او د اب اوریجنل ماشومانو د هوساینې او خوندیتوب لپاره د هغې په اهمیت پوه شي. (۱٫۱, ۱٫۲, ۱٫۳, ۱٫۴, ۱٫۵)
- د چلند قانون او د موقف توضیحات د کارمندانو او رضاکارانه چلند توقعات په ګوته کوي په شمول:
  - د توکم پالنې صفر زغم او تمه کیږي چې کارمندان او رضاکاران به د نژاد پرستی په پیښو کې اجرأت ترسره کړي
  - دا چې د ماشومانو سره به مرسته کیږي تر څو د خپل کلتور د څرګندولو او د خپلو کلتوري حقونو څخه د خوند اخیستلو جوګه وي (۱٫۱، ۱٫۳)
- د عمل پلان هغه ګامونه ټاکي چې سازمان به د ۲۰۲۳ کال د جولای تر ۱ نیټې پورې د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کړي چې پکې د اب اوریجنل ماشومانو متنوع او ځانګړي پیژندنې او تجربې درناوی او ارزښت وشي. (۱٫۱, ۱٫۲, ۱٫۳, ۱٫۴, ۱٫۵)

## بنسټیز ګامونه

### کړنې

- د نژاد پرستی مثالونه په دوامداره توګه پیژندل شوي او په ګوته شوي. (۱٫۳)
- سازمان هغه ګامونه په ګوته کوي چې د مخه اخیستل شوي دي تر څو:
  - د کارمندانو او رضاکارانو او مشرانو ملاتړ، لارښود یا روزنه ترڅو د اب اوریجنل کلتور درک، درناوی او ارزښت ولري او د اب اوریجنل ماشومانو د هوساینې او خوندیتوب لپاره د دې په اهمیت پوه شي (۱٫۲ او د ۸٫۴ لینکونه)

[12] د ماشومانو د خوندیتوب سازمان A guide for creating a Child Safe Organisation.

- په فعاله توګه د اب اوریجنل ماشومانو او د هغوی د کورنیو د ګډون او شاملولو ملاتړ او آسانتیا (۱٫۴)
- د اب اوریجنل خلکو پیژندل او د دوی لاسته راوړنې، ټولنې او کلتورونه لمانځل (۱٫۲)
- ډاډ ترلاسه کړئ چې په سازمان کې نژاد پرستی پیژندل شوي او په سمه توګه حل شوي (۱٫۳)
- په سازمان کې د اب اوریجنل ماشومانو لپاره د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کول. (۱٫۵ او ۵٫۴ ته لینکونه)

- هغه اقدامات په ګوته کړئ چې سازمان ورته اړتیا لري په بشپړ ډول د ۱ معیار د پلي کولو لپاره یې ترسره کړي، ددې په پام کې نیولو سره چې مخکې اخیستل شوي ګامونه او تشې پیژندل شوي وي. د عمل پلان باید هغه شخص یا ټیم باید وپیژني چې د اجراآتو مسؤلیت لري، او موجودې سرچینې او مهال ویش په ګوته کړي.(۱٫۱, ۱٫۲, ۱٫۳, ۱٫۴, ۱٫۵)

## نور ګامونه

### اسناد

- پالیسي او طرزالعملونه، د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې د پالیسی په ګډون، د سازمان هیلې بیانوي او د عملونو په اړه مفصلې لارښوونې وړاندې کوي، کارمندان، رضاکاران او مشران باید د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کړي چې په کې د اب اوریجنل ماشومانو متنوع او ځانګړې پیژندنې او تجربو ته درناوی کیږي او اهمیت ته یې قایل وي. (۱٫۵)

### کړنې

- دا سازمان به د اب اوریجنل خلکو، ټولنو، کلتورونو او ارزښتونو په منلو او درناوي سره د اب اوریجنل ماشومانو او د هغوی د کورنیو لپاره یو جامع اوپه زړه پورې فزیکي او آنلاین چاپیریال رامینځته کوي. (۱٫۲)
- ټول ماشومان د سازمان څخه د کلتوري حقونو په اړه معلومات ترلاسه کوي او سازمان فعال ګامونه پورته کوي ترڅو اب اوریجنل ماشومان وهڅوي چې خپل کلتور څرګند کړي. کله چې ماشومان خپل کلتور څرګندوي، په سازمان کې کارمندان او رضاکاران د دوی ملاتړ کوي. (۱٫۱، ۱٫۴ او ۳٫۱ ته لینکونه)
- دا سازمان چی د ماشومانو د پیاوړتیا لپاره په سازمان کی ګامونه پورته کوي او دوی ته فرصتونه چمتو کوي چې په داسې ډول په کې برخه واخلي چې د کلتوري پلوه د اب اوریجنل ماشومانو لپاره خوندي وي. (۱٫۴ او ۳٫۶ ته لینکونه)
- دا سازمان د کلتوري پلوه د اب اوریجنل کورنیو لپاره خوندي فرصتونه چمتو کړي چې په سازمان کې برخه واخلي. (۱٫۴)
- دا سازمان د ددې سازمان د ټولنې غړیو ته لاندې موارد چمتو کړي:
  - د کلتوري حقونو په اړه معلومات، د اب اوریجنل کلتورونو پیاوړتیا او د اب اوریجنل ماشومانو د هوساینې او خوندیتوب لپاره د کلتور اهمیت

- د اب اوریجنل ماشومانو لپاره د کلتوري خوندیتوب او د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي او د زیانونو ترمنځ د ارتباط په اړه معلومات
- د اب اوریجنل کلتورونو او تاریخونو د زده کړې او ستاینې څرګندولو فرصتونه. (۱،۱, ۱،۲)

- هغه ستراتیژیانې چې د سازمان ټولنه هڅوي چې د اب اوریجنل کلتورونو پیاوړتیا ومني او ستاینه یې وکړي په سازمان کې رامینځته شوې، پلي شوې او څارل شوې دي. (۱،۲)
- د نژاد پرستۍ د مخنیوي لپاره ستراتیژۍ پلي کیږي او د توکم پالنې پیښې نه زغمل کیږي. (۱،۳)

# ۳ معیار: د ماشوم خوندیتوب او هوساینه د سازماني مشرتابه، مدیریت او کلتور سره تړلې ده

**د ماشوم د خوندیتوب د ۳ معیار سره په مطابقت کې یو سازمان باید لېترلږه، دا ترلاسه کړي چې:**

۳٫۱ سازمان د ماشومانو خوندیتوب ته په عامه ډول ژمنې کوي.

۳٫۲ د ماشوم خوندي کلتور د سازمان په ټولو کچو کې له پورته څخه ښکته او ښکته څخه پورته غوره شوی او د نمونې په ډول ماډل شوی وي.

۳٫۳ د مدیریت ترتیبات په ټولو کچو کې د ماشوم خوندیتوب او هوساینې د پالیسي پلي کول آسانه کوي.

۳٫۴ د چلند قانون د کارمندانو او رضاکارانو لپاره د متوقع چلند معیارونو او مسؤلیتونو په اړه لارښوونې وړاندې کوي.

۳٫۵ د خطر د اداره کولو ستراتیژیانې د ماشومانو او ځوانانو لپاره د خطرونو په مخنیوي، پیژندلو او کمولو تمرکز کوي.

۳٫۶ کارمندان او رضاکاران د معلوماتو شریکولو او د ریکارډ ساتلو په اړه په خپلو مکلفیتونو باندی پوهیږي.

## مهم ټکي

- ستاسو سازمان باید د ماشومانو خوندیتوب ته عامه ژمنې وکړي. دا ټولې د ټولنې لور ته اشاره کوي چې ستاسو سازمان د ماشومانو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکوي او د ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنه یا زیان به ونه زغمي.
- د ماشومانو خوندي کلتور پدې معنی دی چې یو سازمان ګډ چلند، ارزښتونه، پالیسی او کړنې لري چې د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې ته لومړیتوب ورکوي.
- د ماشوم خوندي کلتور درلودل ستاسو له سازمان څخه دا غواړي ترڅو د سازمان د مشرانو، کارمندانو، رضاکارانو، غړو او ماشومانو ورځني فکر او عمل کې د ماشومانو خوندیتوب رامینځته کړي.
- ستاسو د سازمان ټولنه مشرانو ته ګوري ترڅو د سازمان ارزښتونه جذب کړي. دا پدې مانا ده چې د مشرانو چلند د ماشوم د خوندیتوب د کلتور لپاره کلیدي دی. مشران باید د ماشومانو د خوندي عملونو ملاتړ وکړي او د مثال په توګه د کارمندانو او رضاکارانو څخه د تمه شوي چلند د نمونې په ډول له ټاکلو او د ماشومانو لپاره زیانمن چلند نه زغملو له لارې رهبري کړي.
- د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې پالیسي په ګوته کوي چې ستاسو اداره څنګه د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې ته لومړیتوب ورکوي او د دې کولو لپاره به کوم ګامونه پورته کړي. دا د کارمندانو، رضاکارانو او د سازمان د ټولنې لپاره د ماشومانو د خوندي عملونو په اړه د سازمان توقعات ټاکي. د دې په اړه نور ولولئ [د ماشوم خوندیتوب او هوساینې د پالیسی په رامینځته کولو کې].

- حکومتولي د یوې مدیریت مشرتابه، نظارت او حساب ورکونې پروسې ته اشاره کوي. په مدیریت کې د سازمان مقررات شامل دي چې څوک د پریکړې کولو واک لري، څنګه پریکړې باید وشي او څارنه وشي، او څنګه خلک باید حساب ورکوونکي وي.[13]
- پداسې حال کې چې د مدیریت ترتیبونه په سازمانونو کې توپیر لري، مګر دا باید ستاسو د سازمان د ماشوم خوندیتوب او هوساینې پالیسي په پلي کولو کې د پورته څخه ښکته او ښکته څخه پورته مرسته وکړي ترڅو د ماشوم خوندي کلتور په پراختیا کې مرسته وکړي. دا پدې مانا ده چې مشران د سازمان د ټولنې څخه د معلوماتو اخیستلو په نتیجه کې د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې په اړه د سازمان لپاره روښانه لارښوونه وټاکي. د سازمان د مدیریت ترتیبات هم باید روڼتیا رامینځته کړي او مشران د ټاکل شوي لارښود د لاسته راوړنې لپاره حساب ورکړي.
- د چلند قانون باید د ماشومانو سره د منلو وړ او نه منلو وړ چلندونه لیست کړي. دا مسلکي حدود، اخلاقي چلند، د چلند تمه شوي معیارونه او د منلو وړ او نه منلو وړ اړیکو ته اشاره وکړي. د دې په اړه نور معلومات [د چلند د اصولو په جوړولو](#) کې ولولئ.
- په سازمان کې د مدیریت ترتیبات باید د لوړ پوړو مشرانو مرسته وکړي ترڅو وڅیړي چې آیا په سازمان کې د خطر ارزونه او مدیریت په سمه توګه د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیانونو د خطرونو په پیژندلو، مخنیوي او کمولو باندې تمرکز کوي. [د ماشومانو د خوندي سازمان د جوړولو په لارښود کې](#) ۹ معیار د خطر پیژندلو او اداره کولو په اړه نور معلومات وړاندې کوي.
- د اړونده معلوماتو شریکول د ماشوم د خوندیتوب د اداره کولو لپاره خورا مهم دي. ستاسو د سازمان کلتور، سیستمونه او پروسې باید د ماشومانو لپاره د خطرونو په اړه په ټولو کچو کې د اغیزمنو معلوماتو شریکولو لپاره مرسته وکړي. کارمندان او رضاکاران باید د خپلو مکلفیتونو په اړه روښانه وي.
- د ریکارډ ساتلو یو ښه سیسټم د روڼتیا او حساب ورکونې او ستاسو د سازمان د بشپړتیا لپاره مرکزي دی. دا مهمه ده چې د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې یا زیان شکایت ته په اغیزمنه توګه د اقدام کولو لپاره دقیق ریکارډونه جوړ، وساتئ او ذخیره کړئ.
- د ښکیلو خلکو محرمیت او د هغوی د شخي معلوماتو پټ ساتل باید تل د معلوماتو شریکولو او خوندي ریکارډونو ساتلو په وخت کې په پام کې ونیول شي.

## د مطابقت شاخصونه

### کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طریقه ترسره کړي چې د دې معیار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[14]

---

[13] د آسټرالیا د مدیریت د انسټیټیوټ څخه را اخیستل شوې What is governance?

[14] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړاندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لرټرلږه اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکټور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

## اسناد

- د ماشومانو خوندیتوب ته عامه ژمنتیا شتون لري او د عامه لاسرسي لپاره ښودل کیږي. (۲٫۱)
- د ماشوم خوندیتوب او هوساینې پالیسي د هر معیار سره په تړاو د سازمان تمې او کړنې مشخصوي. (۲٫۳)
- د چلند قانون د ماشومانو سره د کارمندانو او رضاکارانو چلند او د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې ته وده ورکولو او ساتلو په اړه تمې ټاکي. (۲٫۴)

## کړنې

- مشران، کارمندان، رضاکاران، غړي او ماشومان د سازمان اتلان او د ماشومانو د خوندي کلتور نمونه یا ماډل وي. دوی د ماشومانو د خوندي ساتلو لپاره ملاتړ څرګندوي، کله چې دوی د ماشومانو د خوندیتوب په اړه اندیښنه ولري اقدام وکړي او د ورځني تمرین د یوې برخې په توګه د ماشومانو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي. (۲٫۲)
- مشران د ماشومانو د خوندیتوب په اړه روښانه توقعات ټاکي او ډاډ ترلاسه کوي چې د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې پالیسي د کارمندانو او رضاکارانو لخوا پلي کیږي. (۲٫۳)
- مشران د راپور ورکولو کلتور ته وده ورکوي. (۲٫۲، ۲٫۳)
- د مدیریت ترتیبات پدې معنی دي چې لوړ پوړي مشران په منظم ډول د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې په وړاندې کولو کې د سازمان د فعالیت بیاکتنه کوي. (۲٫۳ او ۱۰٫۱ ته لینکونه)
- د مدیریت ترتیبات پدې معنی دي چې لوړ پوړي مشران نظارت کوي چې آیا په سازمان کې د خطر ارزونه او مدیریت په سمه توګه د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیانونو د خطرونو په پیژندلو، مخنیوي او کمولو باندې تمرکز کوي. (۲٫۵ او ۹٫۱، ۹٫۳ ته لینکونه)
- کارمندان او رضاکاران د معلوماتو شریکولو او د ریکارډ ساتلو په اړه په خپلو مکلفیتونو باندی پوهیږي. (۲٫۶)
- د چلند قانون ټولو کارمندانو او داوطلبانو ته لیږل شوی، او مشران د دوی د اطاعت کولو لپاره مسؤل دي. (۲٫۴)

## ۳ معیار: ماشومان او ځوانان د خپلو حقونو په اړه ځواکمن شوي، په هغو پریکړو کې برخه اخلي چې په دوی اغیزه کوي او په جدي توګه په پام کې نیول کیږي.

**د ماشوم د خوندیتوب ۳ معیار سره په مطابقت کې یو سازمان باید لړترلږه، ډاډ ترلاسه کړي چې:**

۳٫۱ ماشومان او تنکي ځوانان د خپلو ټولو حقونو څخه خبر دي، د خوندیتوب، معلوماتو او ګډون په شمول.

۳٫۲ د ملګرتیا اهمیت پیژندل شوی او د ملګرو ملاتړ هڅول کیږي ترڅو د ماشومانو او ځوانانو سره د خوندي او لږ انزوا په احساس کولو کې مرسته وکړي.

۳٫۳ ماشومانو او تنکي ځوانانو ته د جنسي تیري د مخنیوي پروګرامونو او اړوندو معلوماتو ته د عمر په لحاظ، که د ترتیب یا شرایطو لپاره مناسب وي، لاسرسی ورکول کیږي.

۳٫۴ کارمندان او رضاکاران د زیانونو نښو ته متوجه دي او د ماشومانو او ځوانانو لپاره د ماشوم دوستانه لارې آسانه کوي ترڅو خپل نظر څرګند کړي، په پریکړه کولو کې برخه واخلي او خپلې اندیښنې راپورته کړي.

۳٫۵ سازمانونه د داسې کلتور رامینځته کولو لپاره ستراتیژیانې لري چې د ګډون لپاره آسانتیا رامینځته کوي او د ماشومانو او ځوانانو معلوماتو ته ځواب ویونکي وي.

۳٫۶ سازمانونه د ماشومانو او ځوانانو لپاره د ګډون فرصتونه چمتو کوي او د دوی وندې ته ځواب ویونکي دي، په دې توګه باور او ښکیلتیا پیاوړې کوي.

## مهم ټکي

- ماشومان ډیر احتمال لري چې خپلې اندیښنې یا شکایتونه یوې مدیریت ته وړاندې کړي چې د دوی سره مرسته کوي او دوی ته غوږ نیسي.
- پالیسي او کړنې چې د ماشومانو د لید پر بنسټ رامینځته کیږي کولی شي د ماشومانو د زیان مخه ونیسي.
- ځواکمنتیا د ماشومانو د روزنې او په ځان او سازمان باندې د دوی د باور د پیاوړي کولو معنی لري. پدې کې د ماشومانو د مهارتونو او پوهې سمبالول شامل دي ترڅو باخبره پریکړې وکړي او پر خپل ژوند باندې کنټرول زیات کړي.[15]
- د لویانو په څیر، ټول ماشومان حق لري. حقونه بنسټیز حقوق دي چې په هر فرد پورې اړه لري، پرته له کوم توپیر څخه.
- د خپلو حقونو په اړه د ماشومانو ځواکمن کول پدې معنی دي چې په یوه اداره کې هرڅوک، د مشرانو، کارمندانو او رضاکارانو په ګډون باید:
  - تل د ماشومانو حقونو ته درناوی ولري او ساتنه یې وکړي
  - د دوی د حقونو په اړه د زده کړې په برخه کې فعاله ونډه واخلي

[15] د ماشومانو او ځوانانو کمیسیون، Empowerment and participation: a guide for organisations working with children and young people, 2021.

– د دوی د حقونو د تأمین لپاره مرسته وکړي.

- ماشومان حق لري چې په هغو پریکړو کې برخه واخلي چې په دوی اغېزه کوي. ګډون ماشومانو ته د دې فرصت ورکوي چې خپل نظر څرګند کړي او په پریکړو یې خبر کړي. دا سازمانونو اړ باسې چې واوري، غور ونیسی او د ماشومانو د خبرو پر بنسټ مناسب بدلونونه راولي.
- ماشومان د قوي ملګرتیا څخه ګټه پورته کوي. دوی ممکن خپل ملګري د خپل ملاتړي، معلوماتو او مشورې د اصلي سرچینې په توګه وګوري او د مرستې لپاره دوی ته رجوع وکړي. ماشومانو ته باید اجازه ورکړل شي چې یوځای سره وګوري او له ګډ وخت څخه خوند واخلي او ستاسو سازمان باید د دوی ټولنیزې اړیکې او د ملګرتیاوو ملاتړ وکړي، او د ځورونې یا جلا کولو چلند ونګوي.
- د جنسي تیري مخنیوي پروګرامونه د عمر سره سم پروګرامونه وي او ماشومانو ته یې تعلیم ورکول کیږي. دا پروګرامونه د دوی پوهه او مهارتونه رامینځته کوي ترڅو د لویانو یا نورو ماشومانو لخوا په نامناسب چلند باندې پوه شي، د احتمالي ناوړه شرایطو څخه د ځان په ساتنه کې مرسته ورسره وکړي، او پوه شي چې څنګه د ناوړه ګټه اخیستنې یا د ناوړه ګټه اخیستنې د کوښښ په صورت کې مرسته وغواړي. تاسو باید دا په پام کې ونیسئ چې آیا دا ستاسو د سازمان لپاره مناسبه ده چې دا پروګرامونه یا نور معلومات چمتو کړي چې د ماشومانو سره د جنسي تیري په اړه په پوه کښې او دا چې څرنګه مرسته ترلاسه کړي مرسته وکړي.
- ستاسو په سازمان کې په ټولو کچو کې خلک د ماشومانو د خوندیتوب، پیاوړتیا او د ماشومانو حقونو ته درناوي کې رول ولوبوي. کارمندان او رضاکاران باید خبر وي او پوه شي چې څنګه د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان نښو ته غبرګون وښیي،او څنګه د ماشومانو ګډون ته وده ورکړي او ویې هڅوي. کارمندان او رضاکاران ممکن د دې کار د ترسره کولو لپاره مرستې یا روزنې ته اړتیا ولري.
- ماشومان تل عادت نه وي چې د دوی د تجربو یا هغه څه په اړه وپوښتل شي چې دوی یې غواړي. ستاسو سازمان باید د دوی ملاتړ وکړي ترڅو د خبرو کولو لپاره د آرامۍ احساس وکړي او د خبرې کولو فرصتونه چمتو کړي. د ګډون فعالیتونه باید د عمر سره سم، ټول شموله او د لاسرسي وړ وي، د انفرادي اړتیاوو او وړتیاوو سره سم وي. د دې کولو څرنګوالي په اړه نور معلومات په ځواکمنتیا او ګډون: د سازمانونو لپاره لارښود چې د ماشومانو او ځوانانو سره کار کوي کې شتون لري.

## د مطابقت شاخصونه

### کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طریقه ترسره کړي چې د دې معیار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[16]

[16] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وراندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لرترلره اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکټور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

### اسناد

- د عمر سره سم او د پوهیدو لپاره آسانه اسناد، په چاپ یا آنلاین ډول، په آسانۍ سره د لاسرسي وړ دي او د ماشومانو مرسته کوي:
  - د خوندیتوب، معلوماتو او ګډون په شمول د دوی د حقونو درک کول
  - په دې ځان پوه کړئ چې په سازمان کې لویان باید څنګه چلند وکړي
  - د سازمان د شکایتونو پروسې او د ځان، خپلو ملګرو یا همکارانو لپاره د خوندیتوب اندیښنې راپورته کولو څرنګوالی باندی ځان پوه کړئ
  - د ماشومانو لپاره د مرستندویه خدماتو په اړه پوه شئ. (۱٫۳)
- د سازمان تګلارې او طرزالعملونه:
  - د ماشومانو پیاوړتیا او ګډون ته وده ورکول
  - د ماشومانو د حقونو ملاتړ(۱٫۳, ۳٫۴, ۳٫۵, ۳٫۶)

### کړنې

- په سازمان کې کارمندان او رضاکاران د ماشومانو سره ښکیل دي ترڅو د دوی سره مرسته وکړي:
  - د خوندیتوب، معلوماتو او ګډون په شمول د دوی د حقونو درک کول
  - په دې ځان پوه کړئ چې په سازمان کې لویان باید څنګه چلند وکړي
  - د سازمان د شکایتونو پروسې او د ځان، خپلو ملګرو یا همکارانو لپاره د خوندیتوب اندیښنې راپورته کولو څرنګوالی باندی ځان پوه کړئ
  - د ماشومانو لپاره د مرستندویه خدماتو په اړه پوه شئ. (۱٫۳, ۳٫۴)
- په سازمان کې هغه کړنې چې ماشومان بې واکه کوي په ګوته شوې او د دوی د بدلولو لپاره اقدام کیږي.(۳٫۵, ۳٫۶)
- کارمندانو او رضاکارانو ته معلومات ورکول کیږي ترڅو دوی سره د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې یا زیان نښو په پوهیدو، پیژندلو او عمل کولو کې مرسته وکړي. (۳٫۴)
- که مناسب وي، سازمان د جنسي تیري د مخنیوي پروګرامون او نورو اړوند معلومات ماشومانو ته د عمر سره سم په داسې طریقه وړاندې کوي چې د لاسرسي وړ وي. (۳٫۳)
- سازمان د ماشومانو لپاره فرصتونه رامینځته کوي چې خپل نظر څرګند کړي او په هغو پریکړو کې برخه واخلي چې په دوی اغیزه کوي. هغه څه چې د ماشومانو څخه اوریدل کیږي او زده کیږي د سازمان د کار کولو په څرنګوالي اغیزه کوي. (۳٫۵, ۳٫۶)
- د کارمندانو او رضاکارانو د پوهې او مهارتونو د پراختیا لپاره ددوی ملاتړ کیږي ترڅو د ماشومانو سره مرسته وکړي چې خپل نظر څرګند کړي او خپلې اندیښنې راپورته کړي. (۳٫۴)
- دا سازمان له ماشومانو سره مرسته کوي چې د خپلو ملګرو سره ټولنیزې اړیکې او ملګرتیا رامینځته کړي، په ماشومانو کې مهارتونه رامینځته کړي ترڅو د خپلو ملګرو ملاتړ وکړي او د ماشومانو تر مینځ ځورول یا جلا کول وننګوي. (۳٫۲)

## ۴ معیار: کورنۍ او ټولنې د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې په وده کې خبرتیا او دخیل دي

**د ماشوم د خوندیتوب ۴ معیار سره په مطابقت کې، یو سازمان باید لېترلږه، دا ډاډ ترلاسه کړي چې:**

۴٫۱ کورنۍ یې په هغو پریکړو کې برخه اخلي چې د دوی په ماشوم اغیزه کوي.

۴٫۲ سازمان د ماشومانو د خوندیتوب د تګلارې په اړه د کورنیو او ټولنې سره کار کوي او په خلاص شکل ارتباطات نیسي او اړوند معلومات د لاسرسي لپاره چمتو کوي.

۴٫۳ کورنۍ او ټولنې د سازمان د پالیسیو او کړنلارو په پراختیا او بیاکتنه کې ونډه لري.

۴٫۴ کورنۍ، ساتونکي او ټولنه د سازمان د عملیاتو او مدیریت په اړه خبر دي.

### مهم ټکي

- کورنۍ کیدای شي د مختلفو روابطو څخه جوړه وي، پشمول د هغو کسانو چې د وینې، وادہ، فرزندي نیول او د خپلوۍ د جوړښتونو یا نورو پراخو کورنیو جوړښتونو سره تړاو ولري. په کورنۍ کې داسې خلک هم شامل وي چې د ژوند په ورځنیو کارونو کې برخه اخلي یا خورا نږدې شخصي اړیکې شریکوي.
- ټولنې د خلکو یوه ډله ده چې ګډې ګټې، تجربې، ټولنیزه تاریخچه، ملیت، کلتور، باورونه یا هویت یې شریک وي.[17] سازمانونه، کورنۍ او ماشومان ممکن داسې ټولنې ولري چې دوی ورسره نږدې اړیکې لري یا په مکرر ډول ورسره ښکیل وي. لکه د کورنیو په څیر، ټولنې متنوع دي.
- والدین، پالونکي او کورنۍ باید ستاسو په سازمان کې د ښه راغلاست احساس وکړي.[18] د یو ټول شموله کلتور رامینځته کول او ساتل، کوم چې د مختلفو ډولونو کورنیو ته درناوی لري، د ماشومانو ملاتړ کوي چې خوندي احساس وکړي او خوندي وي.
- ستاسو د سازمان د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې په سفر کې د رول لوبولو لپاره د کورنیو او ټولنو ځواکمن کول د ماشومانو لپاره ګټور دي. دا پدې معنی ده چې:
  - والدین، پالونکي او ټولنه به زده کړي چې کوم سازمانونه د ماشومانو په خوندیتوب کې مرسته کوي او دوی څنګه د ماشومانو په خوندي ساتلو کې مرسته کولی شي
  - سازمانونه کولی شي د انفرادي ماشومانو سره په ښه توګه مرسته وکړي چې د کورنیو څخه یې هم د ماشوم په اړه معلومات شریک شي، ځکه دغه کورنۍ خپل ماشوم ښه پیژني
  - والدین، پالونکي او ټولنه به د ځواکمنتیا احساس وکړي او پوه شي چې څه وکړي که دوی د ماشوم د خوندیتوب یا هوساینې په اړه اندیښمن وي.
  - ستاسو د سازمان د ماشومانو خوندي چلند به ودی ته دوام ورکړي.

[17] د کیمبرج د قاموس د تعریف څخه اخیستل شوی.

[18] ممکن داسې وختونه وي چې د کورنۍ د ځینو غړو سره ښکیلتیا مناسبه نه وي، د بیلګې په توګه، که چیرې د ماشوم سره د دوی په تماس کې محدودیت شتون ولري یا په ځینو شرایطو کې، که ماشوم د ماشوم ساتنې د مدیریت سره ښکیل وي. په دې حالتونو کې، تمرکز باید د پراخې کورنۍ او ټولنې په ښکیلتیا وي یا، که مناسب وي، له ماشوم څخه وپوښتئ چې دوی څوک غواړي چې ښکیل شي.

- په پریکړو کې د کورنیو ګډون پدې معنی دی چې د پریکړې کولو دمخه د دوی نظر غوښتل کیږي، او دا نظر د پریکړې کولو د پروسې برخه ګڼل کیږي. ستاسو سازمان باید کورنیو ته فرصت ورکړي چې د پریکړو په اړه خپل نظر څرګند کړي چې ممکن د دوی د ماشوم په خوندیتوب او هوساینې اغیزه وکړي.
- کورنۍ، پالونکي او ټولنه باید ستاسو د سازمان د عملیاتو او مدیریت په اړه خبر شي ترڅو دوی په معنی لرونکی توګه برخه واخلي. کورنۍ باید پوه شي چې ستاسو سازمان څه کوي او دا څنګه جوړښت لري. دوی اړتیا لري پوه شي چې څنګه په سازمان کې د مربوطه خلکو سره اړیکه ونیسي که چیرې دوی د ماشوم د خوندیتوب یا هوساینې په اړه اندیښنه ولري.

## د مطابقت شاخصونه

**کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟**

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طریقه ترسره کړي چې د دې معیار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[19]

### اسناد

- د سازمان پالیسي د کورنۍ او ټولنې د ښکیلتیا اهمیت منعکس کوي او هغه لارې تشریح کوي چې دا ښکیلتیا واقع کیدی شي. (۴٫۳)
- د شکایاتو د اداره کولو پالیسیو کې د کورنیو د خبر ساتلو لپاره طرزالعملونه شامل دي او د محرمیت او پټنتیا په اړه د مکلفیتونو سره سم د دې څرنګوالي په اړه لارښود چمتو کوي. (۴٫۲ او ۷٫۲ ته لینکونه)

### کړنې

- سازمان د کورنیو او ټولنو ملاتړ کوي ترڅو په سازمان کې د ماشومانو په خوندیتوب او هوساینه کې د دوی د رول په اړه د خبرو کولو له لارې د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې ته وده ورکولو او ساتلو کې فعاله ونډه واخلي. (۴٫۴ او ټولیزه پایله)
- دا اداره یا سازمان د کورنیو او ټولنو سره د لاندې مواردو پواسطه خلاصه او شفافه ده:
  - د سازمان د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې د پالیسیو او عملونو په اړه د لاسرسي وړ معلوماتو چمتو کول (۴٫۲ او ۴٫۴)
  - د سازمان د مدیریت او عملیاتو په اړه معلومات چمتو کول، شکایتونه څرنګه اداره کیږي او څرنګه اداره د انضباطي کړنو او د ماشومانو د خوندیتوب خطرونه اداره کوي. (۴٫۴)
- کورنۍ فرصت لري چې د سازمان لخوا ترسره شوي پریکړو کې برخه واخلي چې د دوی د ماشوم په خوندیتوب او هوساینه باندی اغیزه کوي. د کورنیو سره اړیکه د هر ډول کورنیو د ګډون بشپړملاتړ کوي.(۴٫۱)

[19] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړاندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لپټرلړه اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکټور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

- د کورنیو او د ټولنې غړو لپاره به فرصتونه رامینځته شي چې د سازمان د پالیسیو، طرزالعملونو او کړنو په اړه نظر وړاندې کړي، د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې لپاره د سازمان د چلند په شمول. (۴,۳)
- سازمان د کورنیو او ټولنو نظرونه او شکیلتیا په جدي توګه اخلي او د دوی نظرونه په پام کې نیسي. (۴,۳ او ۷,۳ ته لینکونه)

# ۵ معيار: مساوات ساتل کیږي او په پالیسۍ او عمل کې مختلفو اړتیاوو ته درناوی کیږي

**د ماشوم د خوندیتوب ۵ معیار سره په مطابقت کې یو سازمان باید لړترلږه، داړ ترلاسه کړي چې:**

۵٫۱ سازمان، د کارمندانو او رضاکارانو په ګډون، د ماشومانو او ځوانانو متنوع شرایط درک کوي، او مرسته چمتو کوي او د هغو کسانو په اړه غبرګون کوي چې زیان منونکي دي.

۵٫۲ ماشومان او تنکي ځوانان اطلاعاتو، مرستې او د شکایتونو پروسو ته په داسې طریقو لاس رسی لري چې له کلتوري پلوه خوندي، د لاسرسي وړ او د پوهیدو وړ وي.

۵٫۳ دا سازمان د معلولیت لرونکو ماشومانو او ځوانانو اړتیاوو ته ځانګړې پاملرنه کوي، ماشومان او ځوانان چې د کلتوري او ژبني پلوه متنوع تاریخچه لري، هغه کسان چې په کور کې د ژوند کولو توان نلري، او همدارنګه هم جنسبازانې ښځې، هم جنسبازان سړي، دوه جنس، ټرانسجنډر او انترسکس(نر ښځې) ماشومان او ځوانان.

۵٫۴ سازمان د اب اوریجنل ماشومانو او ځوانانو اړتیاو ته ځانګړې پاملرنه کوي او د دوی لپاره کلتوري خوندي چاپیریال چمتو کوي/ هڅوي.

## مهم ټکي

- ماشومان بې ساري وړتیاوې، ځانګړتیاوې، مهارتونه او د ژوند تجربې لري. په تاریخچه، شخصیت او باورونو کې توپیرونه په دې کې مرسته کوي چې ماشوم څنګه نړۍ تجربه کوي او څه ته اړتیا لري.
- سازمانونه او ټولنې هغه وخت پیاوړې کیږي کله چې تنوع ته ارزښت ورکړل شي او درناوی وشي ځکه چې ماشومان کولی شي فرصتونو ته لاسرسی ومومي ترڅو خپل ظرفیت پوره کړي.
- منفي تجربې لکه ردول او تبعیض کولای شي زیانمن وي، د ماشوم د زیان او ناوړه ګټه اخیستنې خطر زیاتوي، او د دې احتمال کموي چې ماشوم به د اندیښنې په صورت کې خبرې وکړي.
- مساوات د عادلانه حالت څخه عبارت دی چې ټول ماشومان کولی شي په آزاده او مساوي توګه د ژوند په ټولو برخو کې برخه واخلي، پرته له دې چې د دوی تاریخچې، ځانګړتیاوو یا باورونو ته پام وکړي. د ماشومانو په خوندي سازمانونو کې، دا پدې معنی ده چې د ماشوم خوندیتوب د دوی په شرایطو پورې اړه نلري په شمول د دوی ټولنیز یا اقتصادي موقعیت، کلتوري شالید یا د دوی وړتیاوې.
- د ماشومانو خوندي سازمان تنوع پیژني او درناوی یې کوي او پوهیږي چې ځینې ماشومان د نورو په پرتله د ناوړه ګټه اخیستنې لپاره ډیر زیان منونکي دي. دا پالیسیانې او کړنلارې لري چې داړ ترلاسه کوي چې ماشومان اړیکو، مهارتونو، پوهې او سرچینو ته لاسرسی لري چې دوی ورته اړتیا لري او د خپلو ملګرو په څیر خوندي وي.
- د معلوماتو چمتو کول، د شته ملاتړ او شکایاتو د پروسو په اړه د معلوماتو په ګډون، چې د لاسرسي وړ، له کلتوري پلوه مناسب او د پوهیدلو لپاره آسانه وي پدې کې دا پوهه هم شامله ده چې څرنګه د ماشومانو د اړیکو اړتیاوې د دوی د انفرادي وړتیاوو او د پرمختګ د مرحلې پراساس توپیر لري.

- ستاسو د سازمان د شکایتونو پروسې ته د ماشوم لاسرسی باید د دوی د تاریخچې، ځانګړتیاوو یا د ژوند د تجربې له امله محدوده نه وي. دا مهمه ده چې ټول ماشومان وکولی شي شکایت وکړي یا اندیښنه راپورته کړي.
- سازمانونه باید د ماشومانو مختلف حالتونه او همدارنګه د عادلانه چلند حق درک کړي. پدې کې اړتیاوو ته پاملرنه شامله ده:
  - معلولیت لرونکي ماشومان - د ماشومانو خوندی سازمان معلولیت لرونکي ماشومان پیاوړي کوي. دا د ماشوم د وړتیاوو په اړه تبعیض یا انګیرنې نه کوي، مګر دا پیژني چې هر ماشوم توپیر لري او خپل معلولیت او نړۍ په مختلف ډول تجربه کوي.
  - له کلتوري او ژبني پلوه متنوع تاریخچه لرونکي ماشومان - د ماشومانو خوندي سازمان د ژبې او کلتوري اړتیاو د پوهیدو لپاره ګامونه اخلي او د کورنۍ متنوع جوړښتونه او نورمونه په پام کې نیسي.
  - هغه کسان چې نشي کولی په کور کې ژوند وکړي - ډیری دلیلونه شتون لري چې ماشومان په کور کې ژوند نشي کولی. د دوی د ژوند ترتیبات مختلف کیدی شي،د خپلوانو یا ملګرو سره په رسمي یا غیر رسمي توګه ژوند کول (د خپلوانو پالنه)، د پالونکي پالنه یا د استوګنې پاملرنه. تاسو کیدای شي د ماشوم د ژوند کولو د ترتیباتو څخه خبر نه یاست، مګر دا مهمه ده چې ستاسو سازمان د ټولو ماشومانو لپاره خوندي او د ښه راغلاست محیط ولري پرته له دې چې د دوی شرایطو ته پام وکړي.
  - همجنسبازې(ښځی)، همجنسباز(سړی)، دوه جنسه، ټرانس جینډر، نرښځی، غیر معمول جنسه(عجیبه)، جنډر متنوع او غیر بائنری ماشومان او ځوانان - ماشومان او ځوانان کولی شي خپل جنسیت، جنسی تمایلات او جنس په مختلفو لارو تجربه او څرګند کړي. د دې لپاره چې د LGBTIQ ماشومان او ځوانان ستاسو په سازمان کې د خوندیتوب احساس وکړي او خوندي وي، تاسو باید په فعاله توګه وښایاست چې تاسو دوی ته ښه راغلاست او ارزښت ورکوئ او دا روښانه کړئ چې تاسو به د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه د دوی د ساتنې لپاره ګامونه پورته کړئ.
  - اب اوریجنل ماشومان - سازمانونه باید د ماشومانو حق وساتي چې د خپل کلتور او ټولنې سره وصل شي او خوند ترې واخلي، د نژاد پرستۍ له امله رامینځته شوي زیان څخه خوندي وي، او له کلتوري پلوه خوندي خدماتو او سازمانونو ته لاسرسی ولري. د اب اوریجنل ماشومانو لپاره د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کولو په اړه نور تفصیلي معلومات د ماشومانو لپاره د خوندي سازمان رامینځته کولو لارښود کې شتون لري.

## د مطابقت شاخصونه

**کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟**

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طریقه ترسره کړي چې د دې معیار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[20]

### اسناد

- د ماشومانو لپاره مواد، په شمول د شکایاتو د پروسې او د مرستې په اړه معلومات، د لاسرسي وړ، د عمر سره سم او د اړتیا سره سم په مختلفو ژبو او بڼو کې شتون ولري. یوازې په لیکل شوي اسنادو باندې تکیه نه وي شوې، په ځانګړې توګه د هغو ماشومانو لپاره چې ړانده یا یې لید ضعیف دي، یا هغه ماشومان چې لوستل نشي کولی. (۵٫۲)
- د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې پالیسي تشریح کوي:
  - د مساوات او شمولیت لپاره د سازمان ژمنتیا (۵٫۱)
  - څرنګه به سازمان د ټولو ماشومانو مختلفی اړتیاوې وپیژني او درناوی یې وکړي (۵٫۱)
  - څرنګه اداره یا سازمان د ماشومانو یا د هغوی کورنیو ته د هغوی د انفرادي اړتیاوو د پیژندلو لپاره لارې برابروي (۵٫۱)
  - دا اداره به څنګه ماشومانو ته معلومات، مرسته او د شکایتونو پروسو ته په داسې طریقو لاس رسی چمتو کړي چې له کلتوري پلوه خوندي، د لاسرسي وړ او د پوهیدو لپاره آسانه وي (۵٫۲)
  - څرنګه به سازمان د مساواتو ملاتړ وکړي او د ټولو ماشومانو لپاره د ګډون شرایط برابراو معقول بدلونونه رامینځته کړي او د ماشومانو ټولو اړتیاو ته ځواب ووایی (۵٫۱، ۵٫۳، ۵٫۴)
  - څرنګه سازمان د ټولو ماشومانو لپاره مساوات ساتي او د معلولیت، نژاد، توکم، مذهب، جنسیت، یو بل جنس حالت، جنډر هویت یا جنسی تمایل پر بنسټ د تبعیض په پایله کې د ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنې او زیان مخه نیسي. (۵٫۱، ۵٫۳، ۵٫۴)

### کړنې

- سازمان د ماشومانو د متنوع شرایطو او اړتیاو د پوهیدو لپاره ګامونه پورته کوي چې ورسره وي یا ښکیل وي. (۵٫۱، ۵٫۳)
- کارکوونکي او رضاکاران:
  - د ماشومانو د متنوع شرایطو په اړه معلومات او لارښوونې چمتو شوي، څنګه هغه فکتورونه وپیژني چې کولی شي د ماشوم زیان منتوب زیات کړي، او څنګه د ټولو ماشومانو لپاره مساوات او خوندیتوب ته وده ورکړي.

[20] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړاندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لړترلړه اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکتور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

- د هغو ماشومانو د مرستې او د هغوی په هکله د غبرګون لپاره اقدام وکړئ چې زیانمنتوب تجربه کوي، د پوښتنو کولو او ځواب ویلو په شمول چیرې چې د زیاتیدونکي زیان نښې شتون ولري
- د ټولو ماشومانو لپاره د برابری ساتلو لپاره اقدام وکړئ، د ماشومانو خوندیتوب ته وده ورکړئ او د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان مخه ونیسئ. (۵٫۱, ۵٫۳, ۵٫۴)

- مشران مساواتو او تنوع ته د درناوي د ترلاسه کولو په اړه روښانه تمې ټاکي. (۵٫۱ او ۲٫۲ ته لینکونه)
- سازمان ډاډ ورکوي چې د معقول ګډون لپاره د ټولو ماشومانو مرسته کیږي. (۵٫۱)

## ۶ معيار: هغه خلک چې د ماشومانو او ځوانانو سره کار کوي مناسب دي او حمايت يې کيږی ترڅو په عمل کې د ماشومانو د خونديتوب او هوساينې ارزښتونه منعکس کړي

**د ماشوم د خونديتوب ۶ معيار سره په مطابقت کې يو سازمان بايد لږترلږه، دا ډ ترلاسه کړي چې:**

۶٫۱ د استخدام، د اعلاناتو، د ريفري چکونو او کارمندانو او د رضاکارانه کار څخه مخکې د هغو خلکو د تاريخچې د چک کولو په شمول پروسې د ماشوم په خونديتوب او هوساينې ټينګار کوي.

۶٫۲ اړونده کارمندان او داوطلبان اوس مهال داسې کار کوي چې د ماشومانو د چکونو يا مساوي شالید چکونو يې ترسره کړي.

۶٫۳ ټول کارمندان او رضاکاران يو مناسب ټرينينګ ترلاسه کوي او د ماشومانو او ځوانانو لپاره د دوی د مسؤليتونو څخه خبر دي، په شمول د ريکارډ ساتل، د معلوماتو شريکول او د راپور ورکولو مکلفيتونه.

۶٫۴ روانې څارنې او د خلکو مديريت د ماشومانو په خونديتوب او هوساينې تمرکز کوي.

### مهم ټکي

- د استخدام ښه طريقه او د چک کولو پياوړې پروسې ماشومانو ته د زيان په مخنيوي کې مهم رول لوبوي.
- استخدام سازمانونه داسې پيل کوي چې د هر کارمند د رول او مسؤليتونو او د رضاکار موقف او د ماشومانو سره د دوی د اړيکو د ډول په اړه روښانه وي. دا د سازمانونو سره مرسته کوي چې وړتياوې، تجربه او ځانګړتياوې په ګوته کړي چې ددندې غوښتونکي يې بايد ولري.
- د کار اعلانونه بايد په واضح ډول د ماشوم خونديتوب او هوساينې ته د سازمان ژمنتيا بيان کړي.
- د ماشومانو سره د کار کولو د چک موخه دا ده چې د هغو خلک چې د ماشومانو سره کار کولو يا رضاکارانه کار کولو اراده ولري مخه ونيسي که چيرې د دوی د ريکارډونو ارزونه ښيي چې دوی ممکن د ماشومانو لپاره غير قابل توجيه خطر رامنځته کړي. ځينې خلک د قانون له مخې اړ دي چې يو باوري چک ولري. سازمانونه کيدای شي دا هم غوره کړي چې خلک دې ته اړ کړي چې د دوی د تاريخچې د چک د پروسې د يوې برخې په توګه يو باوري چيک وساتي، حتی که د قانون لخوا ورته اړتيا نه وي.
- د ماشومانو سره د کار کولو چک ستاسو په سازمان کې د ماشومانو د خوندي ساتلو لپاره يو ګټوره وسيله ده. په هرصورت، دا د يو شخص مناسبتيا نه ارزوي چې د ماشومانو سره کار وکړي يا په ځانګړي رول کې پاملرنه وکړي. هڅه وکړئ د دندې د غوښتونکی د ارزښتونو احساس ترلاسه کړئ ترڅو د دوی مناسبتيا په ارزولو کې مرسته وکړي.
- د ريفرينس په سمه توګه چک کولو کې پاتې راتلل کولی شي د ماشوم خونديتوب په خطر کې واچوي. د ريفرينس چک کول تاسو ته اجازه درکوي د دندې د غوښتونکي معلومات تاييد کړئ او کومې انديښنې چې تاسو يې په مرکه(مصاحبه) کې د دوی ځوابونو په اړه لرئ وپلټئ.

- کارمندان او رضاکاران باید په مناسبه توګه د دوی په رول او سازمان کې شامل شي، نو دوی د ماشومانو په وړاندې خپل مسؤلیتونه او د دوی لپاره خوندي چاپیریال رامینځته کولو ځرنګوالی باندی پوه وي. پدې کې باید ستاسو د سازمان د ماشوم خوندیتوب او هوساینې پالیسي او د چلند قانون یوه عمومي کتنه شامله وي.
- په ټریننګ کې باید ستاسو د سازمان د شکایتونو د اداره کولو پالیسي، راپور ورکولو، ریکارډ ساتلو او د معلوماتو شریکولو د مکلفیتونو په اړه معلومات هم شامل وي. کارمندان او رضاکاران باید روښانه معلومات ترلاسه کړي چې څه وکړي که چیرې دوی د ماشوم د خوندیتوب یا هوساینې اندیښنه ولري.
- د کارمندانو او رضاکارانو څارنه د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې ته وده ورکوي، د واضح فعالیت معیارونو سره او د مدیرانو او انفرادي کارمندانو او داوطلبانو ترمنځ منظمې ناستې د مسئلو په اړه بحث او اندیښنې راپورته کوي. منظم نظارت مدیرانو ته دا وړتیا ورکوي چې نظر ورکړي او د کارمندانو او رضاکارانو لخوا که کوم ناامنه یا اړوند چلند ته مخه کړي مخکې لدې چې ماشومانو ته زیان پیښ شي په دې اړه اقدام وکړي.

## د مطابقت شاخصونه

### کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طریقه ترسره کړي چې د دې معیار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[21]

### اسناد

- د کارموندنې په اعلان کې د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې ته د سازمان ژمنتیا شامله ده. (۶٫۱)
- د دندې توضیحات د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې په اړه د رول اړتیاو، دندو او مسؤلیتونو په اړه روښانه تمې ټاکي. (۶٫۱)
- سازماني استخدام، بشري منابع او رضاکارانه پالیسۍ تشریح کوي چې:
  - د استخدام طریقې چې د سازمان سره مرسته کوي ترڅو داسې خلک وټاکي چې د ماشومانو سره د کار کولو لپاره مناسب وي (۶٫۱)
  - د استخدام دمخه د چک کولو د کړنلارې پشمول مرکې(مصاحبه) کول، ریفري چکونه، د ماشومانو سره د کار کولو چک او نور اسناد/راجستر یا د تاریخچې چک کول (۶٫۲)
  - د سازمان د ماشومانو د خوندیتوب د طرزالعملونو په اړه د ټریننګ (تدریس) ته اړتیاوې (۶٫۳)
  - څنګه د څارنې او د خلکو د مدیریت طریقې به د ماشومانو سره د کار کولو لپاره د یو شخص د مناسبتیا د روانې ارزونې مرسته وکړي. (۶٫۴)
- د کارمندانو او رضاکارانو لپاره د ټریننګ په اسنادو کې لاندې موارد شامل دي:

[21] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړاندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لړترلږه اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکټور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

- د چلند قانون
- د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې پالیسي
- د سازمان د ماشومانو د خوندیتوب طرزالعملونو او د شکایتونو پروسې او همدارنګه د راپور ورکولو، ریکارډ ساتلو او د معلوماتو شریکولو د مکلفیتونو په اړه معلومات. (۶٫۳ او ۸٫۱ ته لینکونه)

### کړنې

- د هر رول د ماشوم خوندیتوب او هوساینې اړتیاوې د نوي کارمندانو او رضاکارانو له ګمارلو دمخه ارزول کیږي. پدې کې شامل دي:
  - وړتیا، تجربه او اړینې ځانګړتیاوې
  - د ماشومانو سره د کارکولو دندې او مسؤلیتونه
  - د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې یا زیان خطرونو اداره کولو لپاره اړین اقدامات د چک کولو، روزنې او نظارت د اړتیاوو په شمول. (۶٫۱)
- د استخدام په پروسه کې د ماشوم خوندیتوب ته د لومړیتوب ورکولو څرنګوالي په اړه معلومات او لارښوونې چمتو شوي، په شمول د غوښتنلیک، مرکې(مصاحبې) او د سکرینینګ (چک کولو)پروسې له لارې د ماشوم د خوندیتوب کومې اندیښنې پیژندل او اداره کول شامل دي. (۶٫۱)
- د استخدام پروسې عبارت دي له:
  - د ارزښتونو پر بنسټ د مرکې یو لړ پوښتنې چې د ماشومانو سره د کار کولو مناسبتیا رامینځته کوي
  - د استخدام دمخه د سکرینینګ کړنلارې پشمول د ریفري چیکونه، د ماشومانو سره کار کول او نور راجسټریشن یا د شالید چیک کول
  - د مسلکی اسنادو، راجستریشن او د ماشومانو سره د کار کولو د چک تصدیق چې د اعتبار وړ او تازه وي
  - د استخدام د پروسې ریکارډ ساتل. (۶٫۱)
- نظارت او د خلکو په مدیریت کې منظمې بیاکتنې شاملې دي ترڅو وګوري چې آیا کارمندان د چلند اصول او نور د ماشومانو خوندي پالیسی تعقیبوي. (۶٫۴)
- د خلکو مدیرانو ته د کارمندانو یا رضاکارانو اداره کولو په اړه د ګامونو په اړه لارښود چمتو کیږي چې چلند یې د ماشومانو د خوندیتوب اندیښنې راپورته کوي. (۶٫۴)
- مسلکي وړتیاوې، د ماشومانو سره د کار کولو چک او نور راجستر کول یا روان چکونه په منظمه توګه د بدلونونو لپاره بیاکتنه کیږي ترڅو ددې اطمنان حاصل وي چې دوی لاهم اعتبار لري. کله چې د یو شخص مسلکي وړتیا، د ماشومانو سره د کار کولو چک یا نور راجسترونه یا روان چک نور اعتبار ونلري د ماشومانو د خطرونو د اداره کولو لپاره ګام اخیستل کیږي . (۶٫۲)
- کارمندان او رضاکاران د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې په اړه د هر رول د اړتیاو، دندو، خطرونو او مسؤلیتونو سره سم تریننګ یا معلومات ترلاسه کوي. په دې تریننګ یا معلوماتو کې د سازمان د ماشومانو د خوندیتوب کړنې او د شکایتونو پروسې او همدارنګه د راپور ورکولو، ریکارډ ساتل او د معلوماتو شریکولو مکلفیتونه شامل دي. (۶٫۳)

# ۷ معیار: د شکایتونو او اندیښنو پروسې باید په ماشومانو متمرکزې وي

**د ماشوم د خوندیتوب د ۷ معیار سره سم یو سازمان باید لېترلږه، ډاډ ترلاسه کړي چې:**

۷،۱ سازمان د لاسرسي وړ، پر ماشومانو متمرکزه د شکایتونو د مدیریت پالیسي لري چې په روښانه توګه د مشرتابه، کارمندانو او رضاکارانو رول او مسؤلیتونه، د مختلفو ډولونو شکایتونو سره د چلند کولو طریقې، د اړونده پالیسیو څخه سرغړونه یا د چلند اصول او د عمل او راپور ورکولو مکلفیتونه په ګوته کوي.

۷،۲ د شکایتونو د مدیریت مؤثره پروسې د ماشومانو او ځوانانو، کورنیو، کارکوونکو او رضاکارانو لخوا د درک وړ وي، او له کلتوري پلوه خوندي وي.

۷،۳ شکایتونه په جدي توګه نیول کیږي او په سمدستي او بشپړ ډول ځواب ورته ویل کیږي.

۷،۴ دا اداره داسې پالیسیانې او طرزالعملونه لري چې اړوندو چارواکو ته د شکایتونو او اندیښنو راپور ورکول په ګوته کوي، پرته له دې څخه چې آیا قانون راپور ورکولو ته اړتیا لري او که نه، او د قانون له پلي کولو سره همکاري کوي.

۷،۵ د راپور ورکول، محرمیت او د کارمونډنې د قانون مکلفیتونه پوره شوي وي.

## مهم ټکي

- پر ماشوم متمرکز د شکایت د مدیریت پروسه سازمانونه اړ باسې چې د شکایاتو مثبت کلتور ولري. دا پدې مانا ده چې ستاسو سازمان د اندیښنو راپور ورکول هڅوي او هرکلی یې کوي، شکایتونو ته په سمدستي، بشپړ او عادلانه توګه ځواب ورکوي، او په خطر کې د واقع شویو ماشومانو د ساتنې لپاره سمدستي اقدام کوي.
- ستاسو د سازمان د شکایت د مدیریت پالیسي باید د لویانو او ماشومانو لپاره د شکایت کولو یا د ماشوم خوندیتوب اندیښنه راپورته کولو پروسه په ګوته کړي. د شکایت پروسه ممکن د لویانو او ماشومانو لپاره توپیر ولري.
- د شکایاتو اداره کولو پالیسي باید د لویانو او نورو ماشومانو لخوا د ماشومانو څخه ناوړه ګټه اخیستنه او زیان وپوښي.
- د شکایتونو اداره کولو پالیسي باید د شکایاتو مختلف ډولونه یا د چلند په اړه چې باید راپور ورکړل شي په ګوته کړي او د راپور ورکولو لازمي مسؤلیتونو په ګډون د هغه څه په اړه روښانه لارښود وړاندې کړي. دا باید روښانه شي چې راپور چا ته ورکول کیدی شي.
- ستاسو د سازمان د شکایت اداره کولو پالیسي او پروسې باید د کارمندانو او رضاکارانو، ماشومانو او د هغوی کورنیو ته په اسانۍ سره د لاسرسي وړ وي. تاسو کولی شئ د یوازینۍ پالیسۍ یا پروسې رامینځته کول غوره کړئ چې د ماشومانو لپاره لیکل شوي او د لاسرسي وړ وي. دا کیدای شي یو ساده فلوچارټ یا پوسټر وي چې د ماشومانو لپاره روښانه معلومات وړاندې کوي چې دوی څه کولی شي که دوی شکایت یا اندیښنه ولري. تاسو کولی شئ د کورنیو لپاره جلا معلومات هم غوره کړئ.

- هغه ماشومان چې شکایتونه او د خوندیتوب اندیښنې راپورته کوي یا د ناوړه ګټه اخیستنې څرګندونه کوي باید په حساسیت سره چلند وشي او ملاتړ ورته چمتو شي. لارښود باید کارمندانو او رضاکارانو ته شتون ولري ترڅو دوی پوه شي چې دا څنګه ترسره کړي.
- د ماشومانو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکولو لپاره اقدام کول باید د سازمان تمرکز وي کله چې د شکایت یا خوندیتوب اندیښنه راپورته شي. دا مهمه ده چې د هر ډول سمدستي خطرونو ارزونه وکړئ ترڅو دا ستاسو د سازمان راتلونکي ګامونو ته لارښوونه وکړي.
- ستاسو د شکایت اداره کولو پالیسي باید د افشاء کولو، شکایتونو او خوندیتوب اندیښنو راپور ورکولو پروسه ستاسو په اداره کې دننه او بهرنیو چارواکو ته په ګوته کړي.
- ستاسو د شکایتونو اداره کولو پالیسي باید ستاسو د سازمان سره مرسته وکړي ترڅو د شکایتونو تحقیق ترسره کړي او د خطر روان مدیریت، عادلانه او شفافې پروسې او هغه ګټې چې په ټکر کې دي د اداره کولو څرنګوالي په اړه لارښوونې شاملې وي.
- ستاسو سازمان باید د ویکتوریا پولیسو، د ماشومانو د خوندیتوب اداره، کمیسیون او نورو چارواکو سره همکاري وکړي چې شکایتونو او اندیښنو ته ځواب ویلو کې رول ولري ترڅو د ماشومانو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړل شي. دوی ممکن تحقیق کولو ته اړتیا ولري او ستاسو د سازمان له ملاتړ او مرستې څخه به د شاهدانو پیژندلو او اړیکو نیولو او شواهدو راټولولو یا ساتلو لپاره ګټه پورته کړي.
- د شکایت یا خوندیتوب اندیښنې حل کولو یوه مهمه برخه روښانه پایله ده. دا پدې مانا ده چې ستاسو اداره د مسلې او شواهدو په سمه توګه د غور کولو وروسته د څه کولو په اړه پریکړه کوي، اړونده خلکو ته د دې پریکړې په اړه وایي او بیا مناسب اقدام کوي.
- محرمیت د شکایتونو د پروسو لپاره مهم دی. خلک کولی شي د محرمیت او پټنتیا په اړه اندیښنې ولري کله چې دوی وغواړي شکایت وکړي. دوی ممکن خپل نوم پټ وساتي، یا نه غواړي معلومات د چارواکو سره شریک کړي لکه پولیس. ځینې وختونه محرمیت نشي ساتل کیدی، یا د ماشومانو د ساتنې لپاره یا د دې لپاره چې د شکایت د موضوع سره عادلانه چلند وشي. ستاسو د شکایت اداره کولو پالیسي باید تشریح کړي چې د شکایت کولو په وخت کې محرمیت باید څنګه اداره شي.
- شخصي معلومات چې یو ماشوم یا بل شخص پیژني چې د شکایت سره تړاو لري باید یوازې د سازمان لخوا افشا شي لکه څنګه چې د اړونده قوانینو سره سم اجازه ورکړل شوې.
- ستاسو د سازمان د شکایت اداره کولو پالیسي او پروسې باید د کارموندنې قانون د هر ډول مکلفیتونو سره سمون ولري چې ستاسو په کارمندانو او رضاکارانو باندې پلي کیږي. تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې د کارمند د چلند په اړه هر ډول تحقیق په طرزالعمل کې عادلانه دی.

## د مطابقت شاخصونه

**کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟**

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طریقه ترسره کړي چې د دې معیار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[22]

### اسناد

- د شکایت اداره کولو پالیسي د پوهیدو لپاره آسانه ده، کلتوري خوندي، د لاسرسي وړ او پر ماشومانو متمرکزه ده. د شکایتونو د حل پالیسي:
  - په دې کې معلومات شامل دي چې څنګه لویان او ماشومان کولی شي شکایت وکړي او دا چې څنګه اداره به په سمدستي او بشپړ ډول شکایتونو ته ځواب ووایي او تحقیق وکړي (۷٫۱, ۷٫۲, ۷٫۳)
  - د شکایتونو یوه داسې پروسه رامینځته کوي چې د ماشومانو، کارمندانو، رضاکارانو، کورنیو او ټولنو بشپړ تنوع ته د لاسرسي وړ وي (۷٫۱)
  - د لویانو او نورو ماشومانو لخوا د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان د ادعا پوښښ کوي (۷٫۱, ۷٫۴)
  - د سازمان د طرزالعمل څخه سرغړونې کې دا شامل دي (۷٫۱)
  - دا په ګوته کوي چې کوم ملاتړ او مرستې به د هغو کسانو لپاره چمتو شي چې شکایت کوي (۷٫۱)
  - دا په ګوته کوي چې د ماشومانو لپاره خطرونه به څنګه اداره شي کله چې شکایت راپورته شي او تحقیق روان وي (د ۹ معیار سره لینکونه)
  - د ریکارډ ساتلو مکلفیتونه تر پوښښ لاندې نیسي (۷٫۳ او ۲٫۶ ته لینکونه)
  - د محرمیت او د کارموندنې قانون د مکلفیتونو ملاتړ کوي چې پوره شي. (۷٫۵)
- اسناد، په چاپ یا آنلاین ډول، د کارمندانو، رضاکارانو، ماشومانو، کورنیو او ټولنو لپاره د شکایتونو بهیر تشریح کوي. (۷٫۱, ۷٫۲)
- په پالیسیو او طرزالعملونو کې دا معلومات شامل دي چې کله شکایتونه باید چارواکو ته راپور شي، په شمول د ویکټوریا پولیس، د ماشومانو خوندیتوب اداره او د ماشومانو او ځوانانو کمیسیون. (۷٫۵)
- انضباطي تګلارې د سازمان ملاتړ کوي چې د شکایت په وخت کې اقدام وکړي.(۷٫۱)

### کړنې

- سازمان د شکایت کولو څرنګوالي په اړه معلومات چمتو کوي او هرچا ته د لاسرسي وړ وي چې په سازمان کې ښکیل وي. (۷٫۲, ۷٫۴)

---

[22] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړاندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لرترلږه اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکټور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

- دا سازمان کارمندانو او رضاکارانو ته د څه او څنګه راپور ورکولو په اړه ملاتړ او معلومات چمتو کوي، په شمول د سازمان څخه بهر چارواکو ته. (۷٫۱, ۷٫۳, ۷٫۴)
- شکایتونه په جدي توګه اخیستل کیږي، پدې معنی چې سازمان په دوامداره توګه:
  - د ماشومانو لپاره هر ډول خطرونه پیژني او اداره کوي
  - شکایتونو ته سمدستي او بشپړ ځواب ورکوي
  - د ماشومانو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکوي او د محرمیت او کارمندنې قانون مکلفیتونه هم پوره کوي
  - د هر هغه چا ملاتړ کوي چې د شکایتونو په بهیر کې ښکیل دي
  - د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې یا زیان په اړه شکایتونه او چارواکو ته د ماشومانو د خوندیتوب په اړه اندیښنې راپور ورکوي او د قانون له پلي کولو سره همکاري کوي. (۷٫۱، ۷٫۳، ۷٫۴، ۷٫۵ او لینک کوی د ۹ معیار سره)
- سازمان ته د شویو شکایتونو ریکارډونه ساتل کیږي، په شمول د ماشومانو د خوندیتوب په اړه راپورته شوي اندیښنې او د ماشومانو سره د ادعا شوي ناوړه ګټه اخیستنې یا زیان په اړه افشا کول، او د ځواب ویلو لپاره ترسره شوي اقدامات. (۷٫۳ او ۲٫۶ ته لینکونه)
- له ماشومانو، کورنیو او ټولنو سره مشوره کیږي کله چې د شکایتونو اداره کولو پالیسي او طرزالعملونه ډیزاین او بیاکتنه کوي. (۷٫۲ او ۴٫۳ ته لینکونه)
- سازمان په منظمه توګه د شکایتونو د اداره کولو پالیسۍ او طرزالعملونو بیاکتنه کوي. (۷٫۱ او ۱۰٫۱ ته لینکونه)

## ۸ معیار: کارمندان او رضاکاران په پوهه، مهارتونو او پوهاوي سمبال دي ترڅو ماشومان او ځوانان د رواني زده کړې او روزنې له لارې خوندي وساتي.

**د ماشوم د خوندیتوب ۸ معیار سره په مطابقت کې، یو سازمان باید لږترلږه، داړ ترلاسه کړي:**

۸٫۱ کارمندان او رضاکاران روزل شوي او ملاتړ یې کیږي ترڅو د سازمان د ماشومانو خوندیتوب او هوساینې پالیسي په مؤثره توګه پلي کړي.

۸٫۲ کارکوونکي او رضاکاران د نورو ماشومانو او ځوانانو لخوا د زیانونو په شمول د ماشومانو د زیانونو شاخصونو د پیژندلو لپاره روزنه او معلومات ترلاسه کوي.

۸٫۳ کارمندان او رضاکاران د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې مسئلو ته د اغیزمن ځواب ورکولو لپاره روزنه او معلومات ترلاسه کوي او د هغو همکارانو ملاتړ کوي چې زیان افشاء کوي.

۸٫۴ کارمندان او رضاکاران د ماشومانو او ځوانانو لپاره د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کولو څرنګوالي په اړه روزنه او معلومات ترلاسه کوي.

### مهم ټکي

- کله چې د یوه مدیریت کارمندان او رضاکاران په سمه توګه خبر، روزل شوي او ملاتړ کیږي، دوی ډیر احتمال لري چې د سازمان د ماشوم خوندیتوب ارزښتونو ملاتړ وکړي او ډیر احتمال لري چې خپلې اندیښنې مدیر یا د ماشوم خوندیتوب شخص ته راپور کړي.
- یوازې د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې پالیسي درلودل ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه نه ساتي. سازمانونه باید خپل کارمندان او رضاکاران په پوهه او مهارتونو سمبال کړي ترڅو ماشومان خوندي وساتي. دا پدې مانا ده چې کارمندانو او رضاکارانو ته د رواني زده کړې او روزنې چمتو کول دي ترڅو دوی وکولی شي دا د دوی د رول د ترسره کولو په وخت کې پلي کړي.
- د ماشومانو خوندي سازمان د خپلو کارمندانو او رضاکارانو ملاتړ کوي ترڅو هغه نښې وپیژني چیرې چې ماشوم ممکن د ناوړه ګټه اخیستنې یا زیان سره مخ وي. ځینې وختونه یو ماشوم ممکن یو چا ته ووایي که دوی زیانمن شوي وي، مګر په نورو وختونو کې کارمندان او رضاکاران باید په چلند، احساساتو یا فزیکي بڼه کې بدلونونو ته پام وکړي.
- د ماشومانو خوندي سازمان خپلو کارمندانو او رضاکارانو ته روزنه او معلومات هم چمتو کوي ترڅو دوی وکولی شي د ماشومانو هوساینې او خوندیتوب مسئلو ته په مؤثره توګه ځواب ووایی ، پشمول د ماشومانو ملاتړ او هر ډول افشا کولو ته ځواب ووایی.
- ماشوم ته د زیان رسولو افشا کول دواړه دردونکي او فشار لرونکي وي. دا پدې مانا ده چې دا د کارمندانو او رضاکارانو لپاره ګټوره ده چې پوه شي چې دوی د چا څخه لارښوونې او ملاتړ ترلاسه کولی شي، او څنګه د خپلو همکارانو ملاتړ وکړي.

- کارمندان او رضاکاران د فعالو ګامونو اخیستلو لارښوونې ته اړتیا لري ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې اب اوریجنل خلک او د کلتوري او ژبني پلوه متنوع تاریخچې لرونکي خلک احساس وکړي چې د دوی کلتور او هویت ته درناوی کیږي، نژاد پالنه نه زغمل کیږي، چې دوی د ځان په توګه خوندي احساس کوي.
- د ماشومانو د خوندیتوب مسئلو په اړه د کارمندانو او رضاکارانو لپاره روزنه او معلومات، د زیان د شاخصونو په شمول کیدای شي ځورونکي وي، په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره چې په ماشومتوب کې د ناوړه ګټه اخیستنې څخه تیر شوي وي. د صدماتو څخه با خبره چلند په یو شخص باندې د صدماتو او فشار د اغیزو پوهیدل او د همدارنګه د هغو چمتو شویو معلوماتو نوعیت او چې څنګه چمتو کیږي پدې اړه حساس کیدل شامل دي. د دې مطلب دادی چېډ نورو زیانونو څخه د افرادو ساتنه وکړي.

## د مطابقت شاخصونه

**کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟**

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طریقه ترسره کړي چې د دې معیار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[23]

### اسناد

- د کارمندانو او داوطلبانو لپاره د روزنې کاري پلان کې په لاندې مواردو کې روزنه شامله ده:
  - د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې پالیسي (۸٫۱)
  - د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیانونو د شاخصونو پیژندل (۸٫۲)
  - څنګه د یو چا سره مرسته وکړو چې ماشوم ته د زیان رسولو څخه خبر راکوي (۸٫۳)
  - د ماشوم خوندیتوب مسئلو ته د ځواب ویلو څرنګوالی د داخلي او بهرني راپور ورکولو اړتیاو، کورنیو او پالونکو ته خبر ورکولو او ماشومانو ته د خطرونو اداره کول په ګډون (۸٫۳)
  - څنګه د کلتوري خوندیتوب ملاتړ وکړو. (۸٫۴)
- د کارمندانو او داوطلبانو لپاره د لارښود مواد (لکه پالیسي، طرزالعملونه، لارښوونې، د معلوماتو پاڼې او پوسترونه) په دې اړه لارښوونې وړاندې کوي چې:
  - د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیانونو د شاخصونو پیژندل، حتی که د نورو ماشومانو لخوا رامینځته شوي هم وي (۸٫۲)
  - د ماشوم خوندیتوب مسئلو ته د ځواب ویلو څرنګوالی د داخلي او بهرني راپور ورکولو اړتیاو، کورنیو او پالونکو ته خبر ورکولو او ماشومانو ته د خطرونو اداره کول په ګډون (۸٫۳)
  - څنګه د هغه چا ملاتړ وکړو چې ماشوم ته د زیان رسونې څرګندونه کوي (۸٫۳)
  - په سازمان کې د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کولو څرنګوالی. (۸٫۴)

[23] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړاندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لرترلره اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکټور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

- د روزنې راجستر د کارمندانو او رضاکارانو لخوا د روزنې بشپړیدل ثبتوي. (۸،۱, ۸،۲, ۸،۳, ۸،۴)

## کړنې

- مشران کارمندانو او رضاکارانو ته خبر ورکوي چې د ماشوم خوندیتوب روزنه لازمي ده. (۸،۱, ۸،۲, ۸،۳, ۸،۴)
- د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې پالیسي په اړه کارمندانو او رضاکارانو ته د دندې نیولو په وخت معلومات او په منظمو وقفو کې روزنه ورکول کیږي.(۸،۱)
- د کارمندانو او رضاکارانو لپاره روزنه ورکول کیږي چې د دوی د وړتیا ملاتړ کوي تر څو:
  - د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان نښې پیژندل (۸،۲)
  - د ماشوم خوندیتوب مسئلو ته ځواب وایی پشمول د داخلي او بهرني راپور ورکولو اړتیاو، کورنیو او پالونکو ته خبر ورکول او ماشومانو ته د خطرونو اداره کول (۸،۳)
  - د هغه چا ملاتړ کول چې ماشوم ته د زیان رسول افشاء کوي (۸،۲، ۸،۳)
  - په سازمان کې د کلتوري پلوه خوندي چاپیریال رامینځته کول. (۸،۴)
- د ماشومانو د خوندیتوب په اړه روزنه او لارښوونه دا ده:
  - د ماشومانو سره د سازمان ښکیلتیا او په سازمان کې د ماشومانو اړتیاو سره سمون ولري
  - د صدماتو څخه با خبره
  - په منظم ډول وړاندیز کیږي ترڅو کارمندانو او رضاکارانو ته وړتیا ورکړي چې خپل مهارتونه او پوهه تازه وساتي
  - په منظمه توګه بیاکتنه او تازه شوي ترڅو اغیزمن پاتې شي.(۸،۱, ۸،۲, ۸،۳, ۸،۴)
- د کارکوونکو او رضاکارانو څارنه او مدیریت د ماشومانو د خوندیتوب د روزنې د اړتیاو پیژندل شامل دي. (۸،۱, ۸،۲, ۸،۳, ۸،۴)

# ۹ معیار: فزیکي او آنلاین چاپیریال خوندیتوب او هوساینې ته وده ورکوي پداسې حال کې چې د ماشومانو او ځوانانو لپاره د زیان رسولو فرصت کموي

**د ماشوم د خوندیتوب ۹ معیار سره په مطابقت کې یو سازمان باید لږترلږه، ډاډ ترلاسه کړي چې:**

۹٫۱ کارمندان او رضاکاران په آنلاین او فزیکي چاپیریال کې خطرونه پیژني او کموي یې پرته له دې چې د ماشوم د محرمیت حق، معلوماتو ته د لاسرسي، ټولنیزو اړیکو او زده کړې فرصتونه ضایع کړي.

۹٫۲ آنلاین چاپیریال د سازمان د چلند قانون او د ماشوم خوندیتوب او هوساینې پالیسۍ او عملونو سره سم کارول کیږي.

۹٫۳ د خطر مدیریت پلانونه د سازماني ترتیباتو، فعالیتونو او فزیکي چاپیریال لخوا رامینځته شوي خطرونه په پام کې نیسي.

۹٫۴ هغه سازمانونه چې د دریمې ډلې څخه تاسیسات او خدمات قرارداد کوي تدارکاتي پالیسۍ لري چې د ماشومانو او ځوانانو خوندیتوب تضمینوي

## مهم ټکي

- په سازمانونو کې د خطر پیژندل او اداره کول د زیان څخه د ماشومانو په خوندي ساتلو کې یو بنسټیز ګام دی. د خطر د مدیریت د چلند په غوره کولو سره، یوه اداره کولی شي په فعاله توګه د ماشومانو د زیان یا ناوړه ګټه اخیستنې احتمال کم کړي.
- د ماشومانو د خوندیتوب د معیارونو په مقصد، 'خطر' د یوې موسسې په تړاو د ماشوم د زیان یا ناوړه ګټه اخیستنې فرصت دی چې ددې سازمان لخوا ورته پیښیږي. پدې کې د سازمان لخوا ماشومانو یا خلکو ته خطرونه شامل دي، هغه خطرونه چې د سازمان لخوا ترسره شوي فعالیتونو له امله رامینځته کیږي او هغه چې په فزیکي او آنلاین چاپیریال کې رامینځته کیږي.
- ټول سازمانونه باید د هغو ماشومانو لپاره د احتمالي خطرونو تحلیل او پوه ترلاسه کړي چې دوی ورسره ښکیل دي. دا مهمه ده چې د سازماني جوړښت او کلتور، فعالیتونو فزیکي او آنلاین چاپیریال لخوا رامینځته شوي خطرونو په اړه فکر وکړئ، او همدارنګه د نوي خطرونو په نښه کولو سره چې رامینځته کیږي.
- کله چې د خطر پیژندل او اداره کوي، دا مهمه ده چې د یو ځانګړي فعالیت یا طریقې ماشومانو ته د ګټې او زیان او ناوړه ګټه اخیستنې خطر د اداره کولو اړتیا تر مینځ توازن ولرئ.
- آنلاین ټیکنالوژي په دوامداره توګه بدلیږي، او ماشومان اکثراً د دې بدلونونو سره په مطابقت کې د والدینو، پالونکو او سازماني کارمندانو څخه مخکې وي. آنلاین چلند باید ستاسو د سازمان د چلند د قانون تر پوښښ لاندې رواستل شي، او د ماشوم خوندیتوب او هوساینې پالیسۍ او کړنې باید آنلاین چاپیریال ته هم پاملرنه وکړي.

- د دريمې ډلې سره ترتيبات يا قراردادونه هم کولی شي د ماشوم خونديتوب ته خطرونه وړاندې کړي. دوی ممکن نامعلوم خلک، يا هغه خلک چې د ماشومانو د خونديتوب د ورته کچې چک کولو تابع نه وي، د سازمان سره د ښکيلو ماشومانو سره په اړيکه کې کړي.
- سازمانونه بايد په سازمان کې ښکيل ماشومانو ته د دريمې ډلې لخوا وړاندې شوي خطرونه په پام کې ونيسي، وپيژني او اداره يې کړي.
- [د خطر ارزونې او مديريت ټيمپليټونه](#) رامينځته شوي ترڅو سازمانونو سره د ماشومانو د خونديتوب د خطر د ارزونې او مديريت د پلان په بشپړولو کې مرسته وکړي.

## د مطابقت شاخصونه

**کله چې کميسيون د دې معيار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟**

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طريقه ترسره کړي چې د دې معيار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[24]

### اسناد

- د خطر ارزونه د سازمان سره تړلي فزيکي او آنلاين چاپيريال کې د ماشومانو ناوړه ګټه اخيستنې او زيانونو خطرونه پيژني.(۹٫۱, ۹٫۳)
- د خطر د مديريت پلانونه هغه کړنې ليست کوي چې سازمان به يې د ماشومانو د ناوړه ګټه اخيستنې او زيان هر پيژندل شوي خطر مخنيوي يا کمولو لپاره ترسره کړي. (۹٫۳)
- د چلند قانون او د ماشومانو د خونديتوب او هوساينې پاليسي دا په ګوته کوي چې څنګه اداره په فزيکي او آنلاين چاپيريال کې د بالخصوص د لوړ خطر فعاليتونو کې ماشومان خوندي ساتي. (۹٫۲, ۹٫۳)
- د دريمې ډلې قراردادیانو د ښکيلتيا په اړه د تدارکاتو پاليسي د ماشومانو د ناوړه ګټه اخيستنې او زيانونو له خطرونو څخه د ماشومانو د ساتنې لپاره پروسې ترتيبوي، لکه د سازمان د چلند قانون او د ماشومانو د خونديتوب او هوساينې پاليسي سره موافقت ته اړتيا لري. (۹٫۴)

### کړنې

- د خطر ارزونې او مديريت پلانونه د کارمندانو، رضاکارانو او ماشومانو نظرونو او اندیښنو ته ځواب ويونکي وي او ددوی لخوا باخبره وي. پلانونه دا ښيې چې سازمان د محرميت ، معلوماتو ته لاسرسي ، ټولنيزو اړيکو او زده کړې فرصتونو ته د ماشومانو د حقونو پروړاندې د هغو د زيان او ناوړه ګټه اخيستنې خطر اداره کولو اړتيا متوازنه کړې. (۹٫۱, ۹٫۳)

---

[24] ستاسو د سازمان ماهيت يا ځانګړتياوې کيدای شي پدې معنی وي چې تاسو بايد ځينې کارونه په يو څه توپير ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړانديز شوي. که داسې وي، تاسو بايد تشريح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پايلو او د معيارونو لرترلره اړتياو سره مطابقت لري. ځينې سکتورونه او سازمانونه شريک تنظيمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې يې صادرې کړي. چيرې چې د معيارونو په اړه د شريک تنظيمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کيږي، او د دې لارښود سره توپير لري، ستاسو سازمان بايد پدې سکټور کې ستاسو د عملياتو لپاره د تنظيمونکي لارښود تعقيب کړي.

- کارمندانو او رضاکارانو ته د خطر مدیریت پلانونه چمتو شوي ترڅو دوی د ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنې او زیانونو خطرونو څخه خبر وي او پوهیږي چې دوی د مخنیوي او کمولو لپاره کوم اقدام ته اړتیا لري.(۹٫۱)
- په سازمان کې د کارمندانو او رضاکارانو لخوا اقدام کیږي ترڅو د ماشوم ناوړه ګټه اخیستنې او زیانونو د خطرونو مخه ونیسي او کم یی کړي کله چې پیژندل کیږي. (۹٫۱)
- د خطر د ارزونې او مدیریت د پلانونو په منظم ډول بیاکتنه کیږي ترڅو دوی تازه وساتي او د شکایتونو، اندیښنو او خوندیتوب پیښو څخه درسونه پکې شامل وي. (۹٫۱, ۹٫۲)
- د سازمان مشرتابه او د مدیریت ترتیبونه ډاډ ورکوي چې د خطر ارزونه او مدیریت د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیانونو خطرونو پیژندلو، مخنیوي او کمولو باندې تمرکز کوي. (د ۲٫۵ سره لینکونه)
- کله چې د دریمې ډلې سره د قراردادونو خبرې اترې کیږي، په قراردادونو کې هغه شرایط شامل دي چې سازمان ته اجازه ورکوي چې اقدام وکړي که چیرې دریم اړخ د متوقع ماشوم خوندیتوب او هوساینې معیارونه پوره نه کړي. (۹٫۴)
- کله چې د دریمې ډلې قراردادیان ښکیل وي، د سازمان لخوا اقدام کیږي ترڅو ارزونه وکړي چې آیا، او تر کومې کچې، د دریمې ډلې قراردادیانو ښکیلتیا د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان خطر سره مخ کوي. (۹٫۴)
- د دریمې ډلې قراردادیانو لخوا د خطر کچې پورې اړه لري، سازمان باید د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې یا زیان خطرونو د مخنیوي یا کمولو لپاره اقدامات وکړي. په مناسبو اقداماتو کې کېدای شي دا شامل وي چې:
  - د دریمې ډلې قراردادیان اړباسي چې د سازمان د پالیسیو او طرزالعملونو سره مطابقت ولري
  - د دریمې ډلې قراردادیانو لخوا د ماشوم خوندي معیارونو او/یا د سازمان د پالیسیو او طرزالعملونو سره د موافقت څارنه
  - د دریمې ډلې قراردادیانو سره کار کول ترڅو د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان خطرونه وپیژني، مخنیوی او کم یی کړي
  - چیرې چې یو سازمان نشي کولی د ماشومانو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې خطرونه او د دریمې ډلې قراردادیانو لخوا رامینځته شوي زیانونه په مناسب ډول اداره کړي، د قرارداد لغوه کولو یا د ماشومانو د ساتنې لپاره نور مناسب اقدام په پام کې ونیسي. (۹٫۴)
- که مناسب وي، کارمندانو، رضاکارانو، والدینو، پالونکو او ماشومانو ته په آنلاین چاپیریال کې د آنلاین خوندیتوب او خطرونو په اړه د معلوماتو چمتو کول، لکه آنلاین پالنه، سایبري ځورونې او جنسی پیغامونه. د منفي تجربو یا اندیښنو راپور ورکولو لپاره ملاتړ ورکول کیږي. (۹٫۲)

## ۱۰ معیار: د ماشومانو د خوندیتوب د معیارونو پلي کول او په منظمه توګه بیاکتنه او لا غوره کول

**د ماشومانو د خوندیتوب ۱۰ معیار سره په مطابقت کې یو سازمان باید لړترلږه، ډاډ ترلاسه کړي چې:**

۱۰٫۱ سازمان په منظمه توګه د ماشومانو خوندي طریقو بیاکتنه، ارزونه کوي او لا یې غوره کوي.

۱۰٫۲ شکایتونه، اندیښنې او د خوندیتوب پیښې د لاملونو او سیسټمیک ناکامیو پیژندلو لپاره تحلیل کیږي ترڅو د دوامداره پرمختګ لپاره خبر ورکول کیږی.

۱۰٫۳ سازمان د اړوندو بیاکتنو د پایلو په اړه کارمندانو او رضاکارانو، ټولنې او کورنیو، ماشومانو او ځوانانو ته راپور ورکوي.

### مهم ټکي

- د ماشوم خوندي سازمان کیدل د یو ځل ټول کارونه په سمه توګه کولو سره نشي ترلاسه کیدی، مګر دوامداره هڅو ته اړتیا لري. د ماشومانو خوندي سازمانونه یو پرانیستی او شفاف کلتور لري، له خپلو غلطیو څخه زده کړه کوي او د ماشومانو ګټو ته لومړیتوب ورکوي.
- منظمې بیاکتنې باید وګوري چې ستاسو پالیسی، طرزالعملونه او عملونه کافي، تازه او اغیزمن دي، او دا چې دوی په بشپړه توګه پلي کیږي او په هر چا باندی پلی کیږی.
- کلنی بیاکتنه د تازه او اغیزمنو پالیسیو او طرزالعملونو ساتلو لپاره ښه عمل دی. په ګړندی بدلیدونکي چاپیریال کې ، ډیر ځله بیاکتنې ته اړتیا لیدل کیدی شي.
- د شکایاتو، اندیښنو او خوندیتوب پیښو ته کتل د بیاکتنې لپاره خورا مهم دي، ستاسو د سازمان د ماشومانو خوندي سیسټمونو او کړنو اغیزمنتیا په اړه معلومات چمتو کوي، او کولی شي د هغو سیمو په پیژندلو کې مرسته وکړي چیرې چې د نورو ناوړه ګټه اخیستنې یا زیان مخه نیولو لپاره بدلونونو ته اړتیا وي.
- ستاسو د شکایتونو، اندیښنو او خوندیتوب پیښو تحلیل باید په پام کې ونیسي:
  - د هرې مسئلې تر شا اصلي لاملونه یا مسئلې
  - ستاسو په پالیسیو، طرزالعملونو یا عملونو کې د تشو یا ناکامیو کومې نښې
  - په چلندونو، کړنو، پیښو یا هغو پیښو چې تقریباً پیښیدونکي وو نمونې
  - کومې نښې چې ستاسو په سازمان کې خلک ممکن نه پوهیږي چې څنګه ستاسو د ماشوم خوندي پالیسی تعقیب کړي
  - د پیژندل شویو مسئلو حل کولو لپاره څه بدلون ته اړتیا لري.
- کله چې د بیاکتنې موندنو راپور ورکوئ، تاسو باید په پام کې ونیسئ چې څنګه:
  - موندنې په وخت سره شریکې کړئ ترڅو دوی اوسني او معنی ولري
  - موندنې د عمر سره سمې طریقه باندې شریک کړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی د لاسرسي او پوهیدو لپاره آسانه دي

- د بیاکتنې څخه زده کړې شریکې کړئ او د ماشومانو خوندي عملونو یا سیسټمونو بدلولو یا تازه کولو لپاره کوم پلانونه په ګوته کړئ او کله چې بدلونونه پیښ شي، او/یا نورې بیاکتنې
- په یاد ولرئ چې د خلکو د محرمیت ساتنه وکړئ او محرمیت وساتئ لکه څنګه چې د قانون له مخې یا چیرې چې تاسو د دې کولو ژمنه کړې وي
- په پام کې ونیسئ چې څنګه د بیاکتنې په اړه په عامه توګه راپور ورکول کیدای شي په هرډول پیښو کې ښکیل اړخونو باندې اغیزه وکړي - په ځانګړې توګه هغو خلکو ته چې دداسې پیښو قربانیان دي هغوی ته د خبرداري ورکولو اړتیا ته پام وکړئ چې ورته وویل شي چې راپور به خپور شي.

## د مطابقت شاخصونه

### کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو مواردو ته ګوري؟

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طریقه ترسره کړي چې د دې معیار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[25]

#### اسناد

- ټولې پالیسۍ او طرزالعملونه د بیاکتنې منظمه دوره لري چې په سند کې ښودل شوي. (۱،۱۰)
- راپورونه د ماشوم خوندیتوب او هوساینې بیاکتنې او موندنې مستند کوي. (۱۰،۳)

#### کړنې

- د شکایاتو، اندیښنو، تورونو او د ځواب ویلو لپاره ترسره شوي اقدامات ریکارډ ساتل کیږي. (۱،۱۰، ۱۰،۲، ۱۰،۳)
- شکایتونه، اندیښنې، د خوندیتوب پیښې یا د پالیسۍ مهمې سرغړونې (لکه د چلند قانون) څیړل کیږي ترڅو پوه شي چې د ستونزې لامل څه دی او آیا د سازمان په پالیسیو، طرزالعملونو او کړنلارو کې کومې نیمګړتیاوې شتون لري چې د ستونزې سره یې مرسته کړې. چیرته چې عیب یا نیمګړتیاوې په ګوته شوي، اصلاحات رامنځته کیږي ترڅو د ستونزې د بیا پیښیدو مخه ونیسي. (۱،۱۰، ۱۰،۲)
- سازمان په منظمه توګه پالیسي، طرزالعملونه او د ماشومانو د خوندي کړنې بیاکتنه کوي، او په پام کې نیولو سره پرمختګونه کوي:
  - د شکایتونو، اندیښنو، خوندیتوب پیښو او د پالیسۍ د پام وړ سرغړونو تحلیل
  - د کارمندانو، رضاکارانو، ماشومانو، کورنیو او ټولنو څخه نظر غوښتل شوی
  - آیا سازمان په بشپړه توګه د ماشوم د خوندیتوب معیارونه پلي کړي. (۱،۱۰، ۱۰،۲ او د معیاري ۳ او ۴،۳ سره اړیکې)
- د موندنو او اقداماتو په اړه چې د سازمان د ماشومانو خوندي کړنو بیاکتنې په ځواب کې ترسره شوي راپورونه د کارمندانو، رضاکارانو، ماشومانو، کورنیو او ټولنو سره شریک شوي. (۱۰،۳)

[25] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړاندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لرترلږه اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکټور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

## ۱۱ معيار: پالیسي او طرزالعملونه مستند کوي چې څنګه اداره د ماشومانو او ځوانانو لپاره خوندي ده

**د ماشوم د خونديتوب ۱۱ معيار سره په مطابقت کې يو سازمان بايد لږترلږه، ډاډ ترلاسه کړي چې:**

۱۱٫۱ پالیسي او طرزالعملونه د ماشومانو ټول خوندي معيارونه په ګوته کوي.

۱۱٫۲ پالیسی او طرزالعملونه مستند شوي او د پوهيدو لپاره آسانه دي.

۱۱٫۳ د غوره کړنو ماډلونه او د برخه اخیستونکو مشورې د پالیسیو او طرزالعملونو پراختيا ته خبر (د معلوماتو له پلوه غني کوي) ورکوي.

۱۱٫۴ مشران د پالیسیو او طرزالعملونو سره د مطابقت اتلان او نمونې وي.

۱۱٫۵ کارمندان او رضاکاران په پالیسیو او طرزالعملونو پوهيږي او پلي کوي يې.

### مهم ټکي

- د ټولو معيارونو پلي کولو لپاره د پالیسیو او طرزالعملونو مستند کول د سازمان سره دخيل هرچا ته پيغام ليږي چې د ماشوم خونديتوب مهم دی. دا کافي ندي چې په ذهن کې غوره تمرينونه ولرئ يا باور وکړئ چې په سازمان کې هرڅوک دمخه سم کار کوي. مقررات او توقعات بايد په پاليسي کې وليکل شي او رسمي شي ترڅو دوی ستاسو په ټوله اداره کې په دوامداره توګه د ماشومانو د خونديتوب ځای په ځای کولو لپاره شريک او وکارول شي.
- پالیسی او طرزالعملونه به ستاسو په سازمان کې خلکو ته لارښوونه وکړي چې دا تشريح کړي چې څنګه سازمان هوساينې ته وده ورکوي او د ماشومانو د خونديتوب د مسئلو مخه نيسي او ځواب ورکوي. "پالیسی" د سازمان مستند شوي قواعد، تمې او موقفونه دي. 'کړنلارې' هغه مستند شوي کړنې او پروسې دي چې د سازمان پاليسي په عمل کې راولي.
- د ماشوم د خونديتوب ځينې مسلې د ځواب ويلو لپاره پيچلې کيدی شي، مګر تاسو بايد د امکان تر حده په ساده ډول د خپل سازمان پاليسي وليکئ. پاليسي بايد د مخاطبينو په ذهن کې نيولو سره وليکل شي، په پام کې ولري چې د ژبې کارولو ته پاملرنه وکړي چې د هرچا لپاره د لاسرسی وړ وي چې پوهيدلو ته اړتيا لري.
- د اغيزمنو پالیسیو جوړول ستونزمن کار دی که چيرې دوی په انزوا کې رامينځته شي - دواړه هغه څوک چې پلي کولو ته اړتيا لري او هغه څوک چې د دوی لخوا اغيزمن شوي بايد د دوی د پراختيا په اړه ورسره مشوره وشي. سازمانونه بايد ماشومانو، کورنيو او ټولنو ته د پالیسیو او طرزالعملونو په پراختيا کې ونډه ورکړي.
- د ماشومانو د خونديتوب ډيری مسايل ځانګړي ندي او د نورو سازمانونو، لوړ پوړو ادارو، متخصصينو او اکاډميکانو لخوا مخکې په پام کې نيول شوي دي. د نورو تجربو لخوا چمتو شوي بصيرت ته رسيدل، او د شته څيړنې او ليکل شوي لارښود پواسطه، ستاسو د سازمان سره مرسته کولی شي د ماشومانو لپاره غوره پاليلې توليد کړي.
- د اتلولی او نمونه کيدو اطاعت پدې معنی دی چې مشران د ماشوم خونديتوب او هوساينې د اهميت لپاره فعال او څرګند دريځ غوره کوي. مشران د ماشومانو د خونديتوب مسئلو په جدي

توګه په پام کې نیولو سره، په سمدستي او بشپړ ډول ځواب ویلو، او کارمندانو او رضاکارانو ته د اړتیا وړ وخت او سرچینې چمتو کولو کې "خبرې پرمخ وړي".

- ستاسو په سازمان کې کارمندان او رضاکاران د ماشومانو خوندي سازمان رامینځته کولو یوه مهمه برخه ده او باید د پالیسیو او طرزالعملونو پلي کولو لپاره اړین معلومات او ملاتړ چمتو شي.

## د مطابقت شاخصونه

### کله چې کمیسیون د دې معیار ارزونه کوي کومو موارد و ته ګوري؟

سازمانونه به عموماً موافق وي که دوی دا اسناد جوړ کړي او دا کړنې په داسې طریقه ترسره کړي چې د دې معیار د ترلاسه کولو لپاره د سازمان مرسته وکړي.[26]

#### اسناد

- د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې پالیسي د ماشوم د هر یو خوندي معیارونو په اړه د سازمان توقعات، کړنې او چلند ټاکي. (۱۱٫۱، ۱۱٫۲ او ۲٫۳ ته لینکونه)
- د چلند قانون د کارمندانو او رضاکارانو د چلند او مسؤلیتونو تمه ټاکي. (۱۱٫۱، ۱۱٫۲ او ۲٫۴ ته لینکونه)
- د خطر ارزونه او مدیریت پلانونه د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیانونو خطرونه په ګوته کوي. (۱۱٫۱، ۱۱٫۲ او د ۹٫۱ او ۹٫۳ سره لینکونه)
- د شکایت اداره کولو پالیسي او پروسې دا په ګوته کوي چې سازمان به څنګه ځواب ووایي او ټول داخلي او بهرني راپور ورکولو مکلفیتونه. (۱۱٫۱، ۱۱٫۲ او د ۷ معیار سره لینکونه)
- سازماني استخدام، بشري منابع او رضاکارانه پالیسی د ماشوم پر خوندیتوب روښانه تمرکز لري. (۱۱٫۱، ۱۱٫۲ او د ۶ معیار سره لینکونه)
- که ستاسو اداره د دریمې ډلې څخه تأسیسات او/یا خدمات قرارداد کوي، د تدارکاتو پالیسی د ماشومانو خوندیتوب تضمینوي. (۱۱٫۱، ۱۱٫۲ او ۹٫۴ ته لینکونه)

#### کړنې

- ستاسو په سازمان کې د ټولو ښکیلو کسانو سره د ماشومانو د خوندیتوب په اړه منظمې مشورې ترسره کیږي. (۱۱٫۳ او د ۳ او ۴ معیارونو سره لینکونه)
- سازمان د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې رامینځته کولو په اړه د مشورې او موجود معلوماتو څخه کار اخلي ترڅو د ماشومانو خوندیتوب پورې اړوند پالیسیو او طرزالعملونو رامینځته کولو ، بیاکتنې او تازه کولو کې مرسته وکړي. (۱۱٫۳)
- د سازمان پالیسي او طرزالعملونه د ماشومانو ټول خوندي معیارونه پوښي او د ماشومانو خوندیتوب ته خطرونه په ګوته کوي کوم چې سازمان او چاپیریال ته ځانګړي دي. (۱۱٫۱)
- پالیسی او طرزالعملونه د پوهیدو لپاره آسانه او په اسانی سره د لاسرسي وړ دي. (۱۱٫۲)

[26] ستاسو د سازمان ماهیت یا ځانګړتیاوې کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو باید ځینې کارونه په یو څه توپیر ترسره کړی چې پدې لارښود کې وړاندیز شوي. که داسې وي، تاسو باید تشریح کړئ چې ستاسو چلند څنګه د پایلو او د معیارونو لپترلږه اړتیاو سره مطابقت لري. ځینې سکتورونه او سازمانونه شریک تنظیمونکي لري چې ځانګړي لارښوونې یې صادرې کړي. چیرې چې د معیارونو په اړه د شریک تنظیمونکي لارښود ستاسو په سازمان باندې پلي کیږي، او د دې لارښود سره توپیر لري، ستاسو سازمان باید پدې سکټور کې ستاسو د عملیاتو لپاره د تنظیمونکي لارښود تعقیب کړي.

کمیسیون د ویکټوریا په اوږدو کې د ځمکو د دودیزو مالکینو درناوی کوي او د پخوانیو، اوسنیو او راتلونکو نسلونو مشرانو، ماشومانو او ځوانانو ته درناوی کوي.

© د ماشومانو او ځوانانو ۲۰۲۳ کمیسیون

دا کار د کاپي حق لري. د هر هغه کارونې سربیره چې د *چاپ حق قانون ۱۹۶۸* اجازه ورکړل شوې، هیڅ برخه یې نشي کیدای چې د ماشومانو او ځوانانو لپاره د کمیسیون دمخه لیکلي اجازې پرته د کومې پروسې لخوا بیا تولید شي ، د ماشومانو او ځوانانو د کمیسیون پوړ، ۱۸ - ۵۷۰ بورک سټریټ ، ملبورن ۳۰۰۰

**د ماشومانو او ځوانانو لپاره کمیسیون**
Level 18, 570 Bourke Street Melbourne,
Victoria, 3000
DX210229

ټلیفون: ۱۳۰۰ ۷۸ ۲۹ ۷۸
بریښنالیک: contact@ccyp.vic.gov.au
ویب: ccyp.vic.gov.au

موږ ومومئ:
په انسټاګرام
فیسبوک
ټویټر